۱۸۰۰




urdu-classics.blogspot.com

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00032321 1
۱٦۰

پرله پسې گڼه

صدیقی
۱۳۶۷/۹/۳۰

# زوړ سړی او سیند

لیکوونکی

## ارنسټ هیمنګوې

PROPERTY OF ACKU 32321

مترجم

سعدالدين « شپون »

نېټه ۱ سد

شمېر ۱۰۰۰

پښتو ټولنه

۱۳٤۰

ACKU

اورنگ زیب قاسمی
ضلع مردان، تحصیل کاٹلنگ

دی یو زوړ سړی و چه په ماګو کی به سپور و او،
ګلف سټریم کی به یی کبان نیول. شاوخوا اتیا ورځی سیند ته تللی وخو یو کب یی هم نه و نیولی، په لومړیو څلویښتو ورځو کی یو هلك هم ورسره مل و، خو وروسته تر هغی د هلك مور او پلار خپل زوی ته وویل چه اوس نو ستا سپین ږیری بیخی بدمرغه شوی، نو یی هلك له بل کب نیوونکی سره ولیږه چه په همغی لومړی ورځی یی شپږ کبان و نیول.

هره ورځ چه به زوړ سړی تش لاس له سینده بیرته راوګرځید هلك به ورسره خپه و او د زاړه سړی د چنګك مزی او لکړه او د ستنی ګیرچاپیر بادوان به یی کوټی ته ورسره وړل.

بادوان څوځو ځایه د اوړو په جوال پیوند شوی و او لکه دا بدی ماتی بیرغ داسی ښکاریده.

سپین ږیری بوډی مزی سړی و چه په ورمیږه یی ګونځی لیدل کیدی د تود زخودانی بی چه د تود وسیمه ودلمر نښی دی په بابه خو ګانو خوړی وی لاسو نو بی داو یو کبانو دراښکلو په اثر ژوری لیکی ارلی، دا لیکی او داغونه اوسنی نه و بلکه دوچ ډاګ داوړو ژوړو په شان زاړه و.

د زاړه سړی نور هرڅه زاړه وچپ دده له سترګو چه لکه د سیند او به شنی او نه ماتیدونکی او دخوشالی له شغلو ډکی وی.

کوم وخت چه دواړه د بحر څنډی ته را وختل او ماکو یی ننه ایست او بادوان بی

ACKU

ټول کړ ، هلك وويل : « سنتياګو ! زه غواړم چه پياله تا سره لاړ شم ، اوس خو موږ خو پيسې پيدا کړې دي . »

زاړه سړي هلك ته کب نيول ورزده کړي وا او په هلك ډير ګران و .

زاړه سړي وويل : « اوس له يوه نيکمرغ ماکو سره يې ، هما غلته اوسه . »

هلك وويل : « په ياد دې دي چه ها بل وار مواوه اتيا ورځې يو کب هم و نه نيو او وروسته مو دري هفتې هره ورځ کبان نيول ؟ »

زاړه سړي وويل : « هو په ياد مې دي ، زه پوهېږم چه ته ما د دې دپاره نه پرېږدې چه ګ-و ندې زما په کب نيولو شکمن بې . »

هلك وويل : « ابا مې مجبور کړی يم چه تا پرېږدم ، زه لا هلك يم او بايد دهغه خبر و منم . »

زاړه سړي وويل : « پوهېږم ، دا طبيعي شی دی . »

هلك وويل : « هغه د تا په مهارت کښې شك لري . »

زاړه سړي وويل : « هو ! خو زه او ته شکمن نه يو . همداسې نه ده ؟ »

هلك وويل : « هو ! که اجازه وي يو بوتل بير به در ته واخلم ، بيا به اسباب کور ته ورسوو . »

زاړه سړي وويل : « هو ! ولې نه ؟ د دوو کب نيوونکو ملګرو په خير . »

دواړه د ساحل سره نژدې په چوترې کينا ستل ، ډيرو کب نيوونکو په زاړه سړي مسخرې کولې خودې نه خپه کېده ، زړو کب نيوونکو چه به ور ته وکتل ور ته ځور پېدل به ، خو خپل خپګان به يې نه ښکاره کاوه او په ډير مهذب ډول به د او بو د ژورو الي او د ښې هوا په باب کښې غږېدل .

کب نيوونکي ګاله وه د کبانو نسونه يې څيرل او بيا يې د دوو لرګيو په سر موټر ته خيژول ، چه بيا به له هغه ځايه د هوانا بازار ته د خرڅلا و د پاره وړل کېدل .

کومو کب نيوونکو چه نهنګان نيولي وو په هابلې خوا کښې يې په لښتو پورې تړلي وو ، د نهنګانو لاري ، کولمې ايستل شوی وې او د شاړې يې غوښې شوې وې ، پوستکي يې هم ايستل شوی وا و غوښه يې دما لګې کوا و دپاره ټوټې ټوټې شوې وه کله به چه بادلمر خاته له خوا و ، نو د نهنګ له مسلخه به دغو ښې بوی

ACKU

ور سره راته ، خونن دشمال مخه دې خوانه‌وه‌اود چوترې په سرشه تود پیښاوی و .

هلك زاړه سړی ته و کتل او ویې ویل: «ستنتیا کو ! » .

سانتیاګو وویل : «ګیلاس مې به لاس کښې نیولی‌واود ډیروپخو انو وختو په فکر کښې ډوب وم » .

هلك وویل : « اجازه دې‌ده چه‌سباته لبز ساردین درته راوړم ؟»

«نه : ته ورځه دبیس بال لوبه وګوره .زه‌اوس هم‌ماکو چلولی شم او را جیلو به‌ جال اوبوته وا چوی .»

هلك وو یل : «خو زه یخپله غواړم چه‌دتاسره‌لاړشم ، که کب‌نشم‌درسره نیولی، کوم بل کار خو به وکړم »

«تا ماته بیروا خستل . اوس‌نود لویو سړیوپه ډلی کښې شمیرل کیږي .»

«زه څومره هلك وم‌چه‌اول ځلی له تاسره په ماکو کښې سپور شوم ؟»

«پنځه کان بوې . کوم وخت‌چه‌به ماکب‌ماکوته خیژ اوه‌دتابه له ویري زاره ورته چاود له‌اونژدې‌به وچه ماکو په‌بل‌مخ واوړی.»

هلك‌وویل: « زماپه یادیږی . د کب‌لکۍ‌به دې‌خواهواپه تیده‌اوتابه‌به کـو تك واهه ، زماپه یاددی چه‌زه دې‌دماکو‌به هوغه بل‌ګوټ کښې دمز و پـه کـړ ی ‌وغورځولم‌اوبه کب‌دې‌پیښه‌وکړداوواهه‌دې.د کب‌دوینی‌وزم ټول‌ماکو په‌سراخیستی‌و.»

«په‌ر ښتیا دې به یادیږي او که مادرته قصه کړی د ه ؟»

« له هغې ورځې چه له تاسره‌سیند ته‌وتلی یم‌هرشی مې‌به یادد ی »

زاړه‌سړی‌په‌لمرځپلواومینه ناکوستر‌ګو هلك ته‌و کتل . ویې‌ویل : « که‌ته زما زوی وای نوبه مې دځانه سره بوولی وای خوته ځانته پلارلرې اوبله‌داچه دیوه نیکمرغ ماکو سره یی .»

هلك وو یل : «اجازه ده چه ساردین درته راوړم . څلور رد شو مې کبان به هم ر اسره را وړم چه‌بی‌یا‌به‌چنګك کښې‌و پیږی .»

«ما هغه خپله یخوانۍ شومه په مالګې کښې ایښی ده » .

ACKU

«زه به تازه شومه راوړم».

د زاړه سړي امیدواري او پرېخان ویسا هیڅکله تړی نه وه تللی، خو اوس یې د سینه دپاسته باده سره احساسات پیښته راو پار ېدل. ویې ویل: «دوه»

هلك وویل: «نه - دوه».

زاړه سړي وویل: «ښه دوه راوړه. له چا خو به دې غلا کړې نه وي!»

هلك وویل: «له غلا هم نه ویرېږم، خو دا مې په پیسه اخیستي دي.»

زاړه سړي وویل: «تشکر»

زوړ سړی دومره ساده وو چه هیڅ یې په یاد نه وو چه دی داشکسته نفسي له کومه وخته زده کړي، خو دومره پوهېده چه شکسته نفسه وا او په دې هم پوهېده چه داحس دلوړتیالار نه نیسي او رښتیني همت له مینه نه ورکوي.

ویې ویل: «له دې شماله داسې ښکاري چه سبا به ښه ورځ وي»

هلك وویل: «چیرته روان یې!»

«لیرې کوم داسې ځای ته ځم چه تر شو بیرته راځم دبا دمخه ګرځېدلی وي.»

هلك وویل: «زه به نو دخپل ما کو خلك دې ته اړ کړم چه ښه لیرې درشي».

نه ویل کیږي که دې یو رښتیاني غټ کب ګیر ته درغی مونږ به دې مرستی ته درورسیږو.

زاړه سړي وویل: «هغه چه ته ور سره یې له ساحله دومره نه لیرې کیږي.»

«خو زه به داسې شی وګورم چه دی یې نشي لیدلی، داسې شی چه د کب نښه وي نو به یې په هغه پسې چل لیرې دروام.»

«ته وایې سترګې به یې دومره کم نظیر یې وي؟»

«هو! ړوند ندی خو ړانده ته نژدې دی»

زاړه سړي وویل: «عجیبه خبره ده. ده خو هیڅکله د کشپانو ښکار نه دی کړی. د کشپ ښکار د سړي سترګې چو زیږندوي»

هلك وویل: «تا خو ټول عمر د کشپانو ښکار کړی او سترګې دې لا رکې روغې دي»

«زه عجیبه شانته سړی یم.»

ACKU

هلک وویل «دراځه چه سامان ګاله ته ورسوو . بیا به نو زه چال واخلم او څه ساړه بن
په کښتۍ ونیسم».

سامان یې له ما کورا وا خیست . زاړه سړی د باد وان ډا ننګه په او ږو کړه
او هلک چنګک او شلګۍ او بکس وا خستل . په بکس کښتۍ د ننه د تور مزی
کړی وه .

د کب شو مه اوهغه کوتک چه کب یی پرې وا ژه په ما کو کښتۍ پاتی شو .
زوړ سړی پوهېده چه له ده به څوك غلا و نکړی خود مزو د کړی او د باد وان
تر پرېښو دو بی وړل ښه و ځکه چه دشپی پرخ خرا بول . دی پو هېده چه چنګک
او شلګۍ هم دساحل کب نیوو نکی نه پټو ی خو په ما کو کښتۍ بی پرېښو دل
بیځایه کارو .

هلک او زوړ سړی دواړه په سرك دزاړه سړی د کوډی خوا ته ر وان شو ل .
د کو ډ ی ورخلاص و او دوی په کښتۍ ننوتل . زاړه سړی ډا ننګه چه دبا دوان
تو ته ورن ته تا و وه د یوا له ته تکیه کړه او هلک بی چنګک او بکس تر څنګ
کیښودل .

ډا ننګه د کو ډی د بوه دیوا له په انداز ه او ږ ده وه . دزاړه سړی کو ډ ی
دخیړی د پو ټکی څخه جوړه وه . پکښې یو کټ ، یومېز اویوه چو کۍ ایښې وه،
یوخاورین نغری په کښتۍ و چه پرسکر و پخلی پکښې کېده . د دیو الو د لر ګیو
په زږو پاڼو د مقد س مسیح او خوا جه کوبر شیري ځړېد لی وې . دا څیرې دده
د ښځی دلاس نښی وې . پخوا په دې دیواله د ده دښځی یو عکس هم و، خو اوس یې
په الما ری کی دخپل پر یو لی کمیسه لاندې ځړ و لی و ځکه کو م و خت چه
په دیوا له ځوړ ندو په لیدو به یی خپله بېکسی اویوا ځېتوب سترګو ته و درېد .
هلک پو ښتنه و کړه: «د خو راك دپاره څه شی لر ې ؟»
«یو ښنك سړې ورجې د ی د څو کبانو سره. زړه دې ور ته کېږي ؟»
«نه زه به یی په کور کښې وخورم . په نغر ی کښې در ته اور بل کړم ؟»

ACKU

« نه ښخېله به يې بيا بل كړم او يا به يې همدا سې سړي وخورم . »

« اچا زه دچه زه جال دځانه سره و اخلم ؟ ».

« هو . ولی نه » .

هلك او زوړ سړی دواړه پوهېدل چه جال مال نشته جال يې لا د وخته خرڅ کړی و خو دا بې هم دهماغې تخيل کاوه . هلك په دې هم پوهېده چه د سړي وريجو ښنك او کبان هم مازې خيال و. تش ځان يې خوشالاوه .

زاړه سړي وويل: «پنځه اتيا ومه ورځ نيكمرغه وی . ځکه به ښه وی چه سبا ته لاړ شم او يو غټ پنځه خلو يشت منې کب در ته راوړم . »

هلك وويل: « زه به اوس جال دځانه سره يوسم او څه ساردين به په کښې و نيسم . »

زاړه سړي وويل: « ښه ته ورځه ساردين راوړه . ما سره پروني ورځپانه شته کرار به په کښې د پروني بيسبال لوبه ولولم . »

هلك نه پوهېده چه داخبار خبر هم خيالي وکه نه ، خو زاړه سړی اخبار د خپل بالښت له لاندې وايست .

هلك وويل: «چه ساردين مې ونيول بيرته به راشم ستا او خپله برخه به په يخ کښې وساتم چه خراب نشي . سبا ته به ئې سره وويشو . چه راغلم ته به راته د بيسبال قصه وواېې . »

« يانکي ضرور لوبه گټي » .

« زه خو د کليو لينډ د هنديانو له تيمه ډېر ډېرېږم . »

« بچيه په يانکي ټيم باور لره او چرت مه خرابوه . »

« ورځپانه ولوله بيامانه قصه وکړه »

« راځه چه د پنځه اتيا په شمېر يوه دلاټرۍ نمره واخلو . سباته پنځه اتيا ومه ورځ ده . »

« ښه ده وا به يې خلو خو په اوه اتيا کښې څه وا بې . په ياد دې نه دی چه اوه اتيا ومه ستا تاريخي ورځ وه چه د کب نيولو ريکارډ دې په اوه اتيا ومه ورځ مات کړ ؟ » .

«دوه واري سر په سر يو ورځ نه راځي . پنځه اتيا ومه نمره به پيدا کړې ، »

هلك وويل «هو پيدا به يې کړم . »

ACKU

«پیسې به له کومه کړو؟».

هلک وویل: «اسانه دی زه به یې د چانه پور کړم.»

زاړه سړه وویل: «زه یې هم پور کولی شم خو زړه می نه غواړی چه له چا یې وغواړم چه نن پور و کړی سبانه په سوال روږدی کیږي.»

هلک وویل: «ځان تود ساته. په یاد لره چه د میزان میاشت ده»:

زاړه سړی وویل: «د میزان په میاشت کې غټ کبان راځي. د جوزا په میاشت کې خو هر سړی کب نیولی شی.»

«زه د غه دی د سار دین پسې لاړم»:

چه هلک بیرته راغی زوړ سړی د چوکۍ د پاسه خوب وړی و. لمر هم پریوتی و،

هلک له کټه بړستن واخیسته او د زاړه سړی په اوږو یې وغوړوله. د زاړه سړی اوږې عجیبې شانتې وی. زړه ئې خو قوی، ورمیږ ئې هم قوی و. اوس چه زوړ سړی ویده او سر یې په سینې پروت و د ورمیږ گونځې یې دومره نه ښکاریدې. کمیس یې د بړو پیوند وله لاسه لکه د ده دما کو بادوان داسې زوړ او د لمر تاوې پیوندونه شړولی وو. د ده د سر څخه دومره د زړتیا نښې بریښیدې چه په ویده داسې نه ښکاریده چه ساه دې ولري. ورځپانه یې په زنگانه پرته وه او د ماښام باد یې پاڼې اړولی را اړولی. پښې یې لوڅې وې.

هلک دې په همدې حال پرې ایښې و او چه بیرته راغی په هماغه حال خوب وړی و.

هلک لاس د بوډا په زنگانه کیښود او ویې ویل: «بابا! پاڅه!»

زاړه سړی سترگی پرانستلې او له ډیر ځنډه نه وروسته موسکی شو،

له هلکه یې پوښتنه وکړه «څه شی لرې؟»

هلک وویل: «ډوډۍ. راځه چه ډوډۍ وخورو.»

زاړه سړي وویل: «چند یانې وږی نه یم»،

هلک وویل: «راځه وخوره! کب نیول او ډوډۍ نه خوړل د چا د لاسه کیږی.

زوړ سړی پاڅید. ورځپانه یې تاو کړه او د بړستنې په تولولو یې پیل وکړ.

ACKU

هلک وویل: «ببرستن په اوږو در واخوه ساړه دي. تر څو زه ژوندی یم تابه بری نېږدم چه په اوږی نس کیاڼ و نیسي .»

زاړه سړی وویل: «تر ډیره دې ژوندی یې. څه شی دې راوړی دی »

« ابزه لوبیا ، وریجې ، کیله او ابزه یخنی. »

هلک خوراک په بو مسی لوښی کښې راوړی وو . دوه چړی او پنجه یې هم په جیب کې وې چه هره چاړه او پنجه په یو کاغذ کښې نغښتې وه ،

« داچا در کړل ؟ » ،

« مارتین »

« زه باید ترې تشکرو کړم » .

«تشکر می ځنې کړی دی . ستا تشکرته حاجت نشته » .

« زه به دیوه لوی کب دلنډی غوښې ور کړم ځکه چه څو واري یې موږ سره مرسته کړې ده، »

« هو ».

«نو باید دې چه د کب دلنډ ی له غوښې نه هم ښه شی ور کړم . په موږ ډیر زهیر دی »

«د بیر دوه بوتلونه یې هم را لیږلی دی .»

زما دقطیه بیر خوښ دی .»

هلک وویل: «خودا بیر په بوتلو کښې دی او تش بو تلونه بیر ته ور وړم .»

«ته ډیر په ما زهیر یې . راځه چه بسم الله کړو .»

هلک وویل: « څو واري مې درته وویل: چه وخورو . ما نه غوښتل چه دلوښی سر ترهغې پرانیزم تر څو ته تیار شوی نه یې »

«اوس نو تیار یم تش دومره وخت ماته په کارو چه مخ اولاس پرې مینځم » .

هلک فکر و کړ چه چیرته به یې مخ مینځلی وی. د کلی ویالـه ډیره لرې وه .

زه باید او به هم دلته ورته راوړم صابون هم باید درویمال سره هم دلته راوړی وای ښه یې فکره یم . باید بل کمیس ورتـه پیدا کړم دژمی ذکرټ او وناو او

ACKU

دژمي دباره ديوې بلې بې ستنې غم هم بايد ورته وخورم.

زاړه سړي وويل: «داستا يخنې څو مره خونده وره ده.»

هلك پوښتنه وكړه: «د نيبال قصه راته وكړه.»

زاړه سړي وويل: «د يا نگي ټيم لو به وكتله.»

هلك وويل: «نن يې باياوده»

زاړه سړي وويل: «پروا نلري نيرته بې گټي ځكه چه ډيما گو په كښې دي»

«چپ له ډيما گو نور خلك هم شته».

«هو! خو ډيما گو بل شان ته سړي دي په هابال ميچ كې چه د برو كلين او

نلا لفياتر مينځ كېږي زه وايم چه برو كلين به لوبه وگټي خو ور وسته بيا

ډيك سيسلر راپه ياد شي چه ده غوندې بل هيڅوك پنډو سكه د و مره لېرې نشي

ويشتې په ياد دې دي چه د بحر غاړې ته به كله كله راغي په دور ځ مې زړه وشو چه ورته

ووايم زمونږ سره كب نيولو ته لاړ شي خو بيا وشرميدم.

تاته مې وويل: چه ور ته ووايه خو ته هم وشرميدې».

هلك وويل: «هو! په ياد مې دي ډير خطاوتاو. كه ورتاو يلي مو واى را سره تللى به راو.

درست عمر به مو دا خوږه خاطره پاتوله.»

زاړه سړي وويل: «زما ډير زړه كيږي چه ډيما گو د ځانه سره ورځم. خلك وايي چه

ده پلار هم كب نيوونكي و. خدازده دي به هم لكه د مونږ پاشان غريب و او زمونږ بلنه

باييې منلي وه د سيسلر پلار خو غريب نه واو ان تر مر گه يې ټيم درلوده كي او يې كوا ي.

كوم وخت چه زه ستا په منگ وم د يوې بيړۍ د باد وان مزد وري مې كوله او افريقې ته به

ورسره تلم. ما شامې به مې ډير ځمري د سيند په غاړو ليدل. د افريقې قصه در ته

وكړم كه د نيبال».

هلك وويل: «د نيبال د جان مك گرا قصه راته وكړه.

«كله كله به مك گرا سا حل ته رانه خو ډير ز بېز او تريخ . يې و په تير د بيا چا مې بې كوم

وخت شراب څښلي و نو به يوه خبره دوه نه ور سره كيده د آس د وراى د وردي هم مينه وه

او د نا هتو آسا او د نودو لمت څخه هيشه يا جيب كې گر ځاوه او لا ډير كاله ي

ACKU

په تلفون کې دآس خبرې کواې » .

هلك وويل : « ماك ګراډير بوى سړى و. پلار مې ويل دى تر ټولو خلكو پوه و »

زاړه سړي وويل : « دا ځكه چه ماك ګر دلته ډير راته . »

« دوروچر هر كال دلته راغلى واى پلار به دې ويلى چه دوروچر تر ټولو پوه دى . »

هلك پوښتنه وكړه: « نو څوك ښه پوه دى؟ » .

« ټول يو رنګه دي . »

« او تر ټولو ښه كب نيوونكى ته يې » .

« نه ډير داسې خلك پېژنم چه تر ما به كب نيولو كښې تكړه دي . »

هلك وويل: « ښه كب نيوونكى او تكړه كب نيوونكى ډيردي خو ته په كښې سارى نلرى . »

« تشكر ته هميشه ما خوشال ساتې . خداى دې داسې كب نه را باندې برابروي چه دواړه دور ته در وغجن شو . »

« كه ته دومره قوي يې لكه وايې چه نو داسې ماهي په سيند كښې نشته چه د تانه خلاص شي . »

« زه به دومره قوي يم كه به نه يم خو د كب نيولو ډير چمونه مې زده دي او ډيره قوي اراده لرم »

هلك وويل: « ته نو اوس بيرته پريوزه چه سبانه تكړه راپاڅېږې زه به لوښې يوسم »

زاړه سړي وويل: « ښه نو خداى په امان سباته به دې راويښ كړم . »

« زما د ويښېدو ساعت ته يې . »

زاړه سړي وويل: « زما ساعت عمر دى . دا زاړه خلك ولې دومره دوخته راپاڅېږي؟ دا به ځكه داسې وي چه د ژوند بله ورځ وګوري كه څنګه؟ »

هلك وويل: « نه پوهېږم خو دومره پوهېږم چه ځوانان ډير خوب او درو ند خوب لري . »

زاړه سړي وويل: « ورځه نو سباته به دې ويښ كړم . »

« زه نه غواړم چه پلار مې ما ويښ كړي . ځان راته وړوكى شانته ښكاره شي . »

« پوهېږم »

« با با ښه پوره خوب دې كړه . »

ACKU

هلك له كوډی ووت . دوی په تیاری كښی ډوډی خوړلې وه . زاړه سړی پرتوګ وایست او په تیاری كی پخپل كټ پریووت پرتوګ یی لكه بالښت تاو كړ او ورځپانه ئې په مینځ كی كیښوده . پرستن بی تر ځان تاو كړه او په هغو نورو زړو ورځپانو چه دچپر كټ په سپرینګو غوړیدلی وو پر یووت او ډیر ژر خوب یووړ .

خوب یی لیده چه كوم وخت په هلكتوب كی دبیړی سره افریقی ته تللی و دساحل شګو به یی دلمر درڼا لاندی ستر كی یوړې . په دې وختو كښی بی هره شپه هماغه دافریقی منظره په خوب لیده . دبیړی هغه تروش دزم بی اوس هم تر پوزی و چه دسهار دباد سره به له سینده را اوچت شو . پخوا به بی چه كوم وخت داوزم تر پوزی كیده نو بالا خو به پاڅید او دهلك دوینو لودپاره به روان شو . خو نن شپه باد ډیر دوخته راغی او دی پوهیده چه لاسبا ندی نو بیرته ویده شو . په خوب كښی بی دڅا پو ګا نو سپینی څوكې لیدلې چه له بحرنه را اوچتی شوی وې .

نور بی نو دطوفانو نو او ښځواو لو یو پیښو خوب نه لیده . نه یی كبان بی هم په خوب نه لیدل او نه بی دجګړو او قوت خوبونه لیدل . خپله ښځه بی هم په خوب نه لیده یوازی بی دافریقی دبحر وغاړې او ځمریان لیدل . ځمریانو لكه پیشو نګورو یو ل سره لو بی كولی . دا ځمری په زاړه سړی لكه هلك دومره ګران وو .

له خوبه كښیناست . له دروازی نه یی دباندی سپوږمۍ ته وكتل پرتوګ یی دبالښته له لاندی راوایست او وا یی غوست . دكوډی نه دباندی سارا ګشت تالاړ او بیا هماغسی دهلك دویښو لودپاره دهغه دكاله پاطرف روان شو . دهلك دانګړ ور زنځیر نه وه وروبی پرانیست او په لو څو پښو غلی غلی دهلك دكوټې خواته ورغی .

هلك په خپلی كوټې كښی په كټ ویده واود كوټې د كړ كۍ څخه دسپوږ مۍ اخیری وړانګی وربا ندې لویدې . دهلك یوه پښه بی كرار په لاس كی ونیوله ترهغی چه هلك په اړخ وا ووښت او ستر ګی یی زاړه سړی ته واړ ولی . زوړ سړی ورته

ACKU

موسکی شو. هلك خپل پر تو ګک له چوکۍ وا خیست او هما غسی یې په ملاستی واغوست.

زوړ سړی له کوټی ووووت او هلك هم ور پسی روان شو. د هلك ستر ګې له خوبه ډکی وې. زاړه سړی یې په اوږو لاس کیښود او وې ویل: «ومی ښه چه له خوبه دې ویښ کړې».

هلك وویل: «پروا نلري».

دواړه دزاړه سړی د کوډی په لور روان شول. لا تیاره وه د ورو پښی ا بله کښیووتکو پښو شپه‌اررانه چه دخپلو ما کوګانو خواته روان وو.

دزاړه سړی په کوډی کښی هلك دمزی کړی چا په بکس کی وه دشلګی او چنګك سرورا واخیستل. دپین زیږی دباد وان پلانکه او پخپله بادوان په اوږو وا چول.

هلك وویل: «چای ته دې زړه کیږی؟»

«ورو ریبزه چه سامان په ما کو کښی خوندی کړو بیا به سره ګورو.»

ورو سته دواړه دبحر په غاړه په چو ترې کیناستل او چای بی وشکله. په دې چو ترې به سهار دوخته نورو کب نیوو نکو هم خپل سبا ناری کاوه.

هلك پو ښتنه وکړه: «با با شپه دې څنګه وه؟» دزاړه سړی له څیرې دخوب نښی ښکارېدې.

وبې ویل: «ډېر ښه خوب می وکړ. نن ځان را ته تکړه ښکاری.»

هلك وویل: «زه هم په ځان کښی هیڅ ستومانی نه وینم. ودر یږه چه خپل او ستا ساردین راوړم او دچنګك شومه هم راوړم. ابا می تل خپل سامان پخپله وړی را وړی او هیڅوك ته پر یږ دی چه ور سره مرسته وکړی.»

زاړه سړی وویل: «زه او ستا پلار په کړو کښی یو شان نه یو. ته لا پنځه کلن وې چه ما در باندې دما کو اسباب په شا کول.»

هلك وویل: «پو هیږم. زه ژر بیرته راځم. ته تر هغو یوه بله پیاله چای هم ورو څښه.»

ACKU

هلك پښې ابلېدونې خونې خوا ته روان شو چه د كب نيولو شومه په كښې ايښې وه
زاړه سړي له خپلې پيالې سو كه سو كه غړپونه كول.

دده ډوډۍ ورځې همدا خوراك و. د ډيرې مودې راهيسې هيڅ خوراك خوند
نه ور كاوه نو ځانته سره يې په ماكو كښې ډوډۍ نه وړه. يو بوتل اوبه يې د ماكو
په اينده يې كې اړلي او درسته ورځ يې په همدغې تيروله.

هلك بيرته راغی. ساردين او شومه يې په يوه زاړه اخبار كښې پيچلې وه.

دواړه د ماكو خواته روان شول. د ماكو يې په دوو كسو جگ كړاو اوبو ته يې
ور ونښوياوه.

هلك وويل: «په مخه دې ښه بوړا.»

زاړه سړي وويل: «تا سره».

چپې يې د ماكو په دواړو اړخو وتړلې او په دواړو لاسو يې د چپو لاستي
شاته راكاږل ماكو په اوبوور گډ شو. ورو ورو له غاړې ليرې كيده. لا تياره وه.
د نورو ماكوگانو ديون غږ يې په اوبو كښې اورېده. سپوږمۍ د غرو شاته پناشوه.

په ماكوگانو كښې به كله كله خبرې هم كيدې خو ډير وخت به يې د چپو
له غږه پرته غږ نه په كښې اوريدل كيده. چه سهار دوخته به كب نيوونكي په خپلو
ماكوگانو كي سيند ته لاړو شول هريو به په يوه لوري روان شو او په ټول
سيند به خواره شول. هريوه به لاړ ختې د كب نيولو ځاي د ځان د پاره په
نښه كړي و.

زاړه سړي د ځانه سره ټاكلي وه چه داوارې به ليرې ځي نو همدغسې مخامخ
له ساحله ليرې كيده. د بحر د اوبو تازه وږمه يې په سپږمو لگيده. د اوبو په هغه
ځاي كې چه ژوره ځاوميده د كم اصلو او خوپانو ښكار پيدې. ژوره ځا هغه ځاي و
چه د سيند ترنور ډير خو به رښتيا هم ژور واو هر راز كبان پكښې ټوليدل. رنگ په
رنگ واړه كبان به د شپې د اوبو سرته راختل او نورو لارو و غټو كبانو به
وربانډې ميلې كولې.

لاتیاره وه خودی بوهیده چه سهار نژدی دی . دالوتونکو کبانو غبز چه له او بوبه بی پاس خیز کړاو بیرته به په شړپهار او بوته و ډور ځیدل زا ړه سړی اوریده . دا الوتونکی کبان پوره ډیر کران وو ځکه چه دده دسیند ملګری وو داو بو په تو تکیو یی زړه سوزیده . فکر یی کاوه داوړی مرغۍ تر ډو نبز ډیری سر ګردانی دی هغه چه په ځان قوی دی لاښه دی . ددی نورو ژوند زمونبز تر ژونده ډیر تریخ دی . نه پوهیږم چه دا ګلالۍ مرغۍ په دی خونړ یو ځپو کښی څه کوی بحر ډیر وخت مهربان او ښکلی وی خو کله کله بیاناځاپه په قارشی . دامرغۍ چه خپلې وړی مشو کی په او بومنډی او بیاجګیږی دسمندر قارته ندی جوړ ې .

زاړه سړی همیشه دځانه سره سیندلامار باله . دلا مارنوم هسپانویان هغه وخت سیند ته ور کوی چه ډیرور باندی ګران وی .

دسیند مینان ډیر وخت سیند په بدو بدو نومو یادوی خو د اخبری داسی و یلې کیږی لکه چه سړی بی ښځی ته وابی . هغه ځلمی کب نیوونکو چه په موټری ماکو ګانو کښی سپړیدل هغوی سیند ته ایلمار ویل . ایلمار یی مذ کردی . دوی ته سیند لکه رقیب او دښمن داسی ښکاریده او کله به چه په قارشونو، به بی ملا متاوه خوزوړ سړی داسی نه و . ده ته سیند لکه یوه ګلالۍ پیغله داسی ښکاریده او کله چه به په قارهم شوه نه به بی ملامتوله . ددې ګناه نه وه . سپوږمۍ به دې هم هغه اغیزه کوله چه په پیغلی بی کوی .

وروورو بی چپه وهله . چپه وهل ورته اسانه وځکه اوس دسمندر په مخ ګونځی نه وی او دده دریمه برخه کار پخپله د او بوجریان کاوه . چه سپیدی و چاو دې نوره خپل ماکو دسیند یوی لیری سیمی ته رسولی و . فکر یی کاوه درسنه هفتهمی په دغو څاګانو کښی لټون و کړاو هیڅ می بیانه موندل . نن به د با نیټا او البا کور په ډلی ور ګډ شم ګوندی کوم اوی کب هلته په کیر راشی .

رنیالاسهه خوره نه وه چه ده خپل چنګکونه را وایستل اوما کوبی په جریان کښی لاهو کړ ، یو چنګک شلو بټ وازی په او بو کښی ننووت بل پنځه او یا ،

ACKU

دریم او څلرم چنګک په نیلي او بوګښې ترسل او پوسل و شل وازو ډوب شو .

د مزو په سر ګښې چنګکونه و او هر چنګک په یوه وړه مساله یې ګب پورې کلک تړل شوی و . د چنګک په څوکه او تو لو ښاخو ګښې شومه نښلول شوی وه د قولادي چنګک هیڅ داسې برخه نه وه پاتې چه په بو لوی ګب ورته بې پروا تیر شوی وای .

هلک دوه واړه کبان هم ور کړي و چه لکه شاول د مزو پورې ځوړند وو . د شاورو واړو چنګکو مزي هر یو لکه خټه ګوته دومره پړ وو . د مزو په پاس سر ګښې دوه شنه بخون لرګي تړلي وو چه د مزي حرکت یې ښوده . که کوم ګب په چنګک ګښې نښتی وای مزي به په او بو ګښې ډوبېده او شین لرګي به هم ور سره ډوب شو او که نو داو بو په مخ به پروت و . د هر مزي سره څلوېښت وازې د مزي بل لړ هم نښتي و چه ګوا کې دا هر تیا په وخت ګښې به یوه ګب ته دری سوه وازې مزي ور غزېدی شو .

زاړه سړي د درو مزو شنو لرګیو ته کتل چه کله به ښور پېږي او ما کوپې سو که سو که چلاوه هر یو مزي یې په ډېر مهارت نیغ او په خپل خپل ځای ساته . او س نو بېخي رڼا وه او د لمر درا ختلو وخت و .

سپین څاك لمر د بحر له مېنځه را و خوت او زاړه سړي نور ما کو ګان ولیدل چه تول تر ده ساحل ته نژ دی و . د لمر رڼا خوره شوه او پلوشې یې به سیند ولګېدې او له سینده بېرته د زاړه سړي په سترګو ویړ کېدې .

زاړه سړي سترګې له سینده واړولي او هماغسې بې ورو ورو چپه وهله . هر یو مزی نیغ په تورو اوبو ننو تی و . زاړه سړي د هر ګب نیوونکي نه خپل مزي ښه نیغ ساتل هر مزی یې دومره ډوب کړی و چه د تورو اوبو په هره برخه ګښې یو چنګک موجود و . نو رو ګب نیوو نکو به مزي د جریان سره خوښي کول ډېر کله به چنګک شپېته وازې ډوب او ګب نیوونکي به دسلو وازو خیال ورا باندې کاوه .

زاړه سړي فکر کاوه زه خو مزي بېخي په ځای برابر ساتم تش دومره دي چه بد مرغه یم .

ACKU

خو شو: لږ څه بو څېزي ګوندې ټن ډېره ورځ نوې ورځ ده . په دې کښې هیڅ شك نشته چه طالع سبه شي دی خو زه دمهارت پر خوایم . بیا نو چه قسمت در ته برابره کړي ته به ور ته تیار یې .

او س لمر دوه نیزې جك واوده په سترګو دومره بدنه لګیده . زاړه سړي درې نورما کو ګان ولیدل چه دري واړه ترده ساحل ته نژدې وو .

فکر یې وکړ درست عمر مې سترګې لمر وهلې دي خو تر اوسه مې دم نظیر په ځای دی .

ماز یګر ی لمر ته سیخ کتي شم او په سترګو کښې مې تور نه راګرځي . لمر خو ما زیګر هم ډېر روڼ دی خو د سهار لمر سترګې ژوبلوي .

په همدې وخت کښې یې یو توروزري مارغه ته پام شو چه دده د سر د پاسه یې وزر وزر دوره وهله . یو واري وزرو نه تول کړل او سکته را شیله شو خو بیا بېر ته په دوره لګیا شو .

زاړه سړي په جك غږ وویل : « مارغه کوم شی لیدلی دی . هسې خوشې دورې نه وهي » ورو ورو یې ما کو هغه ځای ته په چپو ورو وست چه مارغه دوره کوله . ز غر دې نه کاوه او خپل مزي بی په او بو کښې نیغ ساتل خو ما کو یې څه قدرې د مار غه د پاره چټك کړ .

مارغه نور هم جګ شو او دوره یې کوله . خو بیا یې سمدلاسه کوزه غوټه وکړه او زاړه سړي په همدې وخت کښې یو الوتونکی کب ولید چه له او بو یې دباندې خیز کړ او بېرته او بو ته ستون شو .

زاړه سړي د ځانه سره وویل : « ډالفین ، غټ ډالفین » .

چپه یې په ما کو کښې کېښوده او یو وړو کی چنګك یې واخست او یو وړ کب یې په کښې چیخ کړ . د چنګك د مزي لښته یې د ما کو په یوې کړۍ پورې وتړله .

بېر ته یې چپه وا خیسته او په خپل ځای کښېنا ست . ورور ور یې چپه وهله او پاس یې توروزري مارغه ته کتل .

مارغه بیاد غوټې د پاره خپل او زده وزرونه تول کړل او بیا یې نو او بو ته نژ دې

Aurang Zeb '
Subject specialist
GHSS NO1 mardan



دالوتونکی کب پسی کبزه وزه‌لارو کړه. زاړه سړی‌داو بوهغه پرسپدلی ځای لیده چه‌ترلاندې یې‌دډ الفین ډلې‌له مارغه تېښته کوله.

چه‌مارغه به‌په اوبو حمله وکړه کبان به تراو بو لاندې شول. زاړه سړی فکر وکړچه‌دډالفین ډله‌لویه ده‌او دمارغه غوټه‌نه برابریږی. الوتونکی کبان ښایسته غټ‌هم دی اودمارغه زورور باندې نه‌رسیږي.

خوواری یې الوتونکی کبان ولیدل چه‌له اوبو یې پاس خیز کړ خو د مارغه حملې پرې ناکامه شوې. ده‌فکر کاوه لکه چه‌ډله له ما ډېره لیرې شوه. ډېره په زغرد روانه‌ده. زه‌به چپی وهم‌ګوندې خپل‌لوی کب لاس‌ته راولم. زما لوی کب خو باید دلته چیرته وی.

لیرې‌دور یخوا لړی ښکاریدی او ساحل لکه‌یوه شنه لیکه داسې ښکاریده او ترشا یې خړ غرونه لیدل کیدل. دبحر اوبه‌توری‌شنې بریښیدې‌او دډېر تور والی نه‌یې دچڼیار نګ‌نیولی‌و. داو بو لاندې‌داو خزنده‌سره ښکاریدل اود لمر رنګینو وړانګو په اوبو کښې عجیب رنګونه جوړ کړی وو.

دچنګک مزی‌ته‌یې کتل چه‌سم نیغ همداسې کوز په‌تور واوبو کښې له‌نظره پټ‌شوی‌و. زوړ سړی داوبود خزند و په‌لیدلو خوشاله‌شو ځکه چه‌د کب نښه‌وه. دلمر عجیبو او رنګینو وړانګو اودساحل په‌سر نر یوور یخو زاړه سړی ته‌د ښه موسم زیری ور کړ اوس نو مارغه ورک شوی و اود سیند په مخ چپ له زیړو بوټو او چڼیار نګه ځیلدونکو وړو کبا نو چه‌دما کو ترځنګه‌یې داوبو په سر لار کوله. بل هیڅ شی په ستر ګو نه‌لیګده. داواړه کبان به کله کله په‌اړخ‌واو ښتل او بیا به‌یې بیرته ځانونه داو بو په‌سرسم کړل‌او په خو شالۍ به‌یې په‌لا مبو پیل‌و کړ. بانجانی نری ریښکې یې بوګز شاته‌لکه‌ځنې داوبو په‌سر دځان پسې‌را کازلې او په خو لی یې داوبو په سر رنګینې بوکښې جوړولې.

زاړه سړی په‌موسکاورته‌وکتل‌ویې‌ویل! «اې کاسیرې!»

زوړ سړی د چپوسره‌وړاندې‌وروسته زنیګده. واړه کبان یې‌دما کو اړخ‌ته‌لیدل چه

رنګونه یې ښایسته او د خزندو د نرۍ و ریښکیو په مینځ کې او د پوکنیو تر سیور و لاندې ئې په تندي لامبو کوله.

دې وړو کبانو ددې ریښکیو د زهر پروانه کوله خو د ازهرچه د ما هی له خولو تو ییدل په سر یې بد اغیزه کول. ځکه به چه زاړه سړی کوم کب له چنګک خلاصاوه او د چنګک پورې به دا زهرلرونکی کب هم نښتی وو د ده لاس به پرې زخمي زخمي شو. دې زهرو به د اسې سوی کاوه لکه زهرلرونکی پانې چه د سړي په ځان و لګېږي. په سړي به لکه مترو که داسې لګېدل. دا کلالونه پوکنۍ لکه سرې زرغونې داسې ښکاریدې.

خو په ګرد سیند کښې تر دغو ریښکیو لرونکو ژوو غولونکې شې بل نه و او چه د سیند کښپا نو به خوړلې به په زړه کښې ور باندې خوشاله شو. کښپان به د مخې له خوا په لامبو ور پسې را غلل او د ریښکیو سره به یې خولې ته واچول. زوړ سړی به چه کښپ د دغو ژوو په خوراك لګیا ولید ډیر به خوشاله شو. ډیر کله به چه طوفانو نو د ساحل غاړې ته وغورځول زاړه سړی به خپلې زږې پوندې ور باندې کیښو دې او د چاودلو پرف به یې په خوشالۍ اوریده. د سیند شنه کښپان او پلن کښپان هم دده خوښ و. دا کښپان ډیر ګړندي وو او په بازار کښې په ډیره بیه خرڅیدل. هغه بل ستر زیړ رنګی کښپ هم دده خوښ و. د کښپ د ښځې او نرمینه او د دوی مستي او په پټو سترګو لامبو یې ډیره خوښه وه.

زاړه سړی ډیر عمرد کښپا نو ښکار کړی وا و زړه یې ور باندې خوږیده. داسې لوی کښپان هم ده نیولې و چه د سر کاسه یې دده د ماکو هو مره لویه وه او په خپله سل منه درو ندو. خو به د غو یې هم زړه نه خوږیده د ډیرو کب نیو نکو زړه په کښپ سوزي. ځکه چه د کښپ زړه ور وسته تر قصابی او د پوسته کولو نه هم تر ډیره وخته نه درېږي او هماغسې ټوپونه وهي. خو زاړه سړی فکر کاوه چه زه هم د هم د غو کښپانو غوندې زړه لرم او زما لاس او پښې هم د دوی غوندې ګونځې ګونځې دي.

څه شیبه ور وسته یې بوڅو داني هګۍ و خوړلې. ده د جوزا او میزان په میاشتو کښې ان تر قوسه پورې هګۍ خوړلې. دا ددې پاره چه دی دیوه ر ښتیانی لوی کب د پاره تکړه وساتي. ده به هره ورځ یو ه پیا له د نهنګ د ځګر غوړي هم څښل. دا غوړي په هغه لوي پیپ کښې و

ACKU

چه دده د کوټې په کوټ کښې ایښې وه دا پیپ پخوا ددهٔ د کب نیولو د اسباب دپاره په کار یده. اوس په کښې د نهنګ د ځګر غوړي وا و هر کب نیوونکي ته اجازه وه چه راشي او یوه پیا له تري وڅښي. د ډیرو کب نیوونکو د اغوړي نه وخوښ. خو ندیي چندیاني ښه نه و. خو کب نیوونکي پوهیدل چه دا غوړ د سړو او بریښ دپاره ښه وا وځینو به ویل چه د ستر ګو دپاره هم ښه دي.

زاړه سړي پاس د کتل او مارغه یي ولید چه بیایي دوري وهلې.

په جنګ غږ یي وویل: «کب یي پیدا کړی دی.» خو هیڅ الوتونکي کب یي تر ستر ګو نشو. ښاري کاوه. په همدې وخت کښې یو ووړه تو نانومي ماهي یي ولیده چه هواته یي خیز کړ او بیرته سر په ځېږي په اوبو ننووت. دلمر پلوشي یي په سر وپړ قیدې. بله تو ناجنګ شو، بل، بل او همداسي ډیر له اوبو نه هري خواته الوتل او بیرته سر په ځیږي اوبو ته ستنیدل.

اوس نو د ټونا ړله د چنګک له شوم ي تاویده.

زاړه سړي فکر کاوه که داسي وروځي نو به ور سیبزم. د ټونا ړله د مارغه له ویرې په اوبو ننوتله.

زاړه سړي وویل «مارغه مي لوي مرستیال دې»

په همدې وخت کښې یې د پښو لاندې مزی شخ شو. چپې یې له لاسه وغورځولي او مزی یې په لاس کښې ونیو. د ټونا درو ند والي مزي ریبز داوه.

مزې یې پاس راښکه. د مزي دریبز دیداسره یي مزي نور هم پاس کش کړ.

د ماهي شنه شا داوبو په سر ښکاره شوه. اړخونه یي طلایي و. ماهي یي د ما کوله ځنډ ې جنګ کړاو په غولي یې واچاوه. د ما کو په غولی ماهي د لمر دوړانګو لاندې لکیده تر بوله. زاړه سړي په لغته وواهه چه مړ شي او د ما کو په یوه ګوټ کښې یې سیوري ته وغور ځاوه. لار پیز دیده.

زاړه سړي وویل «البا کور. چنګک ته به ښه شومه تري جوړه شي. نیم من دور نه دی.»

د زاړه سړي په یاد نه وچه کوم وخت د ه د ځانه سره غبز پدلزده کړی و. چه یواځې به وو بدلی به یې ویلې او د شپې به یې هم د ځانه سره سندرې بللې. داسې ښکاریده لکه چه

ACKU

ده هغه وخت دځان سره په خبرو پیل کړی وی چه هلك تری لاړ . خودده سم په یاد نه و . دی او هلك چه به په ماکو کښی یو ځای و د ضرورت په وخت کښی به سره غبزیدل او هغه وخت به غبزیدل چه ماکو به په طوفانی او بو کښی گیرشو . کب نیوو نکو دا د کب نیوونکی ښه صفت باله چه په ماکو کښی و نه ژغیږی. دزاړه سړی داخوی خوښ و او د هغی احترام یی کاوه . خواوس یی په زوره خبری ځکه کولی چه ده ته نز دی بل څوك نه و چه دده په خبر وځور یدلی وای .

په جګ غبز یی وویل: « که نور خلك زما د ځانه سره خبری واوری وایی به چه بوډا لیونی شوی دی .»

بیایی وویل: «خو زه چه زه لیونی نه یم د خلکو د خبرو څه پروا کوم. شتمن خلك خو په خپلو ماکو گانو کښی راډیو لری چه ورته ژغیږی او د بیسبال د لوبی خبرو نه ورته راوړی » .

فکر یی وکړ اوس دبیسبال دخبرو وخت نه دی . اوس یواځی دیوه شی وخت دی. هغه شی چه زه ورته خدای پیدا کړی یم. کوم لوی کب به هغی ډلی ته نز دې چیرته وی.

ماخو یوا ځی یو وړو کی البا کور تری و نیو . نن هرشی د شمال خواته ځی ، داولی ؟ البته دا به ده ته لو عادت وی چه دورځی په دې وخت هغه پلو ته ځی یا به د هوا دبدلون نښه وی . نه پو هیږم .

اوس یی دساحل شنه لیکه نه لیدله او یواځی یی دلیرو غرو څوکی لیدلی شوې چه واوری ور باندی پرتی وی. دسپینو وریځو کړی دغره د څوکی نه چاپیرو لاړې وی. کوز سیند تك تور و او په ځینو برخو کی یی رڼا ځلیده . دسیند دو ړ و خز ندو رنګونه اوس دلمر د پلو شو لاندی بیخی سپین ښکار یدل .

یواځی داو بو په ژورو کی درڼا په اثر رنګین بڅری بریښیدل . دچنګك مزی هم داسی نیغ په تورو او بو کښی ننوتلی وو .

ټو نا گان اوس داو بو نه دباندی نه ښکار یدل . کب نیوو نکو به هر راز ټو نا ته ټو نا ویل او یواځی دخرڅلا په وخت به یی دراز راز ټو نا گانو ترمینځ توپیر کاوه .

لمر ورو ورو ډوبېده . تاو یې د زاړه سړي په ورمېږ ولګېد . په شا یې د کمیسه لاندې د خولو داني ورغبرګې . فکر یې کاوه کولی شم چه کرار پریوزم او ما کو پرېږدم چه پخپله لاړ و ځي . د ښځې په ګوته مزي و تړم چه که کب په کښې ګیر شو ر او یښ مې کړي . خو نن پنځه اتیا ورځې دي او باید ښه پام و ساتم .

په همدې وخت کښې چه ده خپل مزو ته کتل ویې لیدل چه دیوه مزي شین لرګی په اوبو کښې ډوب شو . چېچ یې په کراره په ما کو کښې کښېنوده او مزی یې د ګوتې او شهادت ګوتې ترمینځ ونیو . وی ویل « هو ، هو » خولاس یې دروند نشو . مزی ئې همداسې سست په ښي لاس کښې یوه شیبه ونیو . مزی بیا لږ ور یږدید خو دومره دروند نه و . دی پوهېده چه څه شی دی .

سل و اوه کوز یوه مار لین هغه واړه کبان خوړل چه په چنګک کښې پیل شوي وو .

زاړه سړي د مزي سر له ما کو خلاص کړ او دد وو ګوتو په مینځ کښې یې داسې سست ونیو چه که مار لین یې کش کړ ی دی مزی ور غزوي .

زاړه سړي فکر کاوه چه دا دومره تاراکازی نو ضرور به لوی کب دی .

کبه! خوره خوره و ګوره چه څومره تازه کبان مې درته پیلي دي . ان شپږ سوه فوټه ژور مې درته په تورو اوبو کښې غوښه ایښې ده . کبه بله دوره ووهه او ویې خوره . مزی ورو کش شو او بیا یې په زوره ټکان وخوړ . کب به لګیا وي د سار دین سر به شکوي . بیا نو مزي په کرار شو .

زاړه سړي په جګ غږ وویل: « راځه بیا دوره و وهه و همه سار دین خوازه ندي که څنګه؟ خوره یې کنه ولې شرمېږې؟ ».

مزی یې دد واړو ګوتو ترمینځ نیولی و او کوز یې کتل . نورو مزو ته یې هم کتل چه هغو ته ور غلی نه وي . مزی بیا نرغوندې ندې ولړزید

زاړه سړي وویل: « اخر به یې وخوري خدای دې و کړي چه و یې خوري . »

خو وې نه خوړ او مزی بیرته غلی شو . د زاړه سړي زړه تش پاتې شو .

وی ویل: « تللی نشي . اوس بیرته راګرځي . کېږي چه دا کب به پخوا هم چیرته ګیر شوی دی

ACKU

او اوس به له چنګکه ډار ږېږي . » په همدې وخت کښې مزي بيا لږ غوندې
وړېږ ديد او د زاړه سړي تښته خلاصه شوه . ويې ويل: « ويل مې چه بېر ته
راګرځي اوس به يې وخوري . »

زوړ سړی د مزي دی ورو ورو رېږ ديدا ته خوشاله و . په همدې کښې مزي
بېشانه زور ور تګان وخوړ . د کب دروندوالی يې په مزي کښې حس کړ .
مزي يې ورو ورو خوشي کړ . مزي په تندۍ کوز شو پېده . کوز ، کوز ، تر
هغې چه د مزي يوه کړۍ خلاصه شوه . زاړه سړي لا هم د کب دروندوالی
حس کاوه . ويې ويل: « عجيبه کب ! چنګک يې په خولې کښې دی او دی لاروان دی » .
فکر يې وکړ اوس به بېرته راوګرزي او چنګک به تېر کړي . خو دا يې په
په زوره و نه ويل ځکه پوهېده چه ښه شی چه سړی ياد کړي هغه بيا نه
کېږي . پوهېده چه کب خورا لوی دی او پوهېده چه شومره يې برابر په خولې
کښې نيولی په تورو اوبو کښې روان دی . په همدې وخت کښې مزي ودرېد
او دی پوه شو چه کب په ځای ولاړ دی . وروسته يې لاس بيا دروند شو او مزي ئې
ور سست کړ . يو وار يې د يوې شيبې دپاره مزي ټينګ ونيو خو د کب زور ډېر و
او بيا يې مزي ور خوشي کړ . ويې ويل: « چنګک يې خولې کښې دی پرېږده
چه ښه يې وخوري . »

د ښي لاس د ګوتو له مېنځه يې مزي کوز شو پېده . کيڼ لاس يې تېر کړ او
د ذخيري مزي سرونه يې يو بل پسې وتړل . اوس نو تيار و . درې کړۍ مزي يې
تيار لرل . د هر مزي اوږدوالی څلوېښت وازه و .

ويې ويل: « لږ يې نور هم وخوره . ښه يې ښه تېر کړه . »

فکر يې وکړ تر هغې يې د ر لې ننه باسه چه د چنګک څوکه دې په زړه ننوځي
او مړ دې کړي . بيا نو په اسانه پاس راوخېژه چه شلګۍ د ر کې ننه باسم ښه تيار يې ؟
موږ شوی يې ؟ »

ويې ويل: « نور او وخه » او په دواړو لاسو يې مزي پاس کش کړ . يو ګز جګ شو

PROPERTY OF ACKU 32321

بیا یې په دواړو لاسو کش کړ. داوا ریې په ټول زور کش کړ خو هیڅ ونشو
کب په بېخي اسانۍ بېرته کوز لاړ او یوه لو یشت هم را جګ نشو.

د زاړه سړي مزې ډېر قوي وځکه چه د لویو کبانو دپاره او د لښوی و. د مزې
یو سری یې په اوږې واړه او د اوږو په زور یې مزی کش کړ. مزی دومره ښخ شو چه داوبو
څاڅکي تری وا لوتل: مزی یې په اوږو کلک نیولی و او شاته یې ځان کوږ کړ. کب
په ښېبو ښېبو روان و او ماکو یې د ځان پسې راښکه. هغو نورو چنګکونو کښې لاتر
اوسه ټو ناګان ښکاریدل زاړه سړي وویل: «کاشکې هلك راسره وای. پخوا به
ما کب را ښکه اوس کب ما را کاږي. مزی نور هم ټینګولی شم خو ډار د پېږم چه کب
به یې وشلوي. زه یې باید دومره ښخ ونیسم چه که ده ډېر زور اچاوه نور تار
ورخوشې کړم. ښه دي چه کب کوز ندی روان چه نور مزی ونه غواړي. اوس خو چه دی
هرچیری ځي زه ورسره ځم. ښه نو که دی و غواړي کوز په اوبو کښې نور هم ډوب شي
څنګه به کړم نه پوهیږم. ښه نو یو چم خو به ورسره وکړم. ډېر شیان دي چه زما د لاسه
پوره دي. مزی یې په اوږو نیولی واو کوز یې په اوبو کښې مزی ته کتل. ماکو په
ښېبو ښېبو د شمال لغرب خوا ته ښو ییده.

زاړه سړي فکر وکړ دا کب ځلن وژ نی. تر قیامته خو به همدا سې چنګك
په خوله روان نه وي:

خو ډیر وروسته هم کب په ښېبو داو بولا ندې یون کاوه او ماکو یې د ځان پسې
راښکه. زاړه سړي هماغسې مز ی په اوږو نیو لی و. ویې ویل «دا څنګه کب دی
ان غر مه وه چه په چنګك کښې ونښت او لاتر اوسه مې په ستر ګو نه دی لیدلی».

د کب له نښتي پخوا یې خپله مزرینه خولۍ په سر کښې کاږلې وه او اوس یې
و چویلي د خولۍ په څنډې سو لیدلی واوسوی یې کاوه. تبږی هم و. په کراره
په ګونډو وشو چه مزی ونه ښوریږي. یولاس یې د ماکو لینډۍ ته تیر کړ او داوبو بوتل ئې
وا خیست. سریې پرا نیست او څو غوړپه یې تری وکړه. بیا نو د بادوان په ټو ټې
کښېناست او لینډۍ ته یې تکیه وکړه. غوښتل یې چه نور فکر ونه کړي او ځان
تکړه وساتي.

وروسته یې شاته وکتل. د ساحل نښه هم نه وه. فکر یې وکړ، فرق نه کوي زه همیشه د هوانا د ښار په رڼا خپله لار موندلی شم. دوه ساعته نور لمر پریواته ته پاتې دي. ګوندي پخوا تر هغې کب را ووځي. که نه نو د سپوږمۍ د راختو سره خو به راووځي او که بیا هم را ونه ووت نو سبا ته په لمرخریک به راووځي. زه په ځان کښې هیڅ ستړیا نه وینم او ښه تکړه یم. چنګک د کب په خوله کښې دی زما په خوله کښې خو لې کښې خو خوند یې خوړ. ښتیا دا عجیبه کب دی چه داسې کشکول کوي. خوله به یې د چنګک په سیم کلکه تړلې وي. کاشکې مې لیدلای شوای. کاشکې مې لږ تر لږه یو واري لیدلی شوای چه د څه بلا سره مې سر دی.

زوړ سړی د ستورو له مخې پوهېده چه کب درسته شپه په هماغه یوه طرف روان و. له لمر پریواته نه وروسته هوا سړه شوې وه او د زاړه سړي په ډډ واوو چولینګیو خولې وچې شوې وې او سړې لګیدې.

په ورځې کښې یې د چنګک د شومې جوال دوچیدو د پاره د ماکو په دیوال لمر ته غوړلی وا و اوس یې د غاړې نه چاپیر وتاړه. یوه پیشکه یې د مزي لاندې په ډډ و غوړوله. مزی جوال ته تکیه شوا و دی یې لږ هوسا کړ.

فکر یې وکړ تر څو چه دا لوبه روانه وي زما د لاسه هم هیڅ نه کیږي او د کب د لاسه هم.

ودرېد او د ماکو له څنډې یې په سیند کښې متیازې وکړې. ستورو ته یې وکتل او د ماکو د تلو خوا یې ځان ته ښکاره کړه. مزی لکه د شپې او ربلکې د ده له اوږو نیغ اوبو ته کوز شوی و. د ماکو یون اوس ورو شوی و او د هوانا رڼا چندانې قوي نه ښکاریده او له دې نه دی پوه شو چه د ختیځ خوا ته روان دی. فکر یې وکړ که د هوانا د رڼا څخه لیرې کیږو نو د ختیځ خوا ته ځو ځکه که د کب د تلو لار په خوا نې خوا وای شو ساعته نور مو هم د هوانا رڼا لیدله. فکر یې وکړ نه پوهیږم چه د لویو لویو ټیمونو تر مینځ به د بیسبال لوبې څه نتیجه ورکړي. عجیب خوند به کوي چه سړی په ماکو کښې راډیو ولري. وروسته یې

ACKU

فکر و کړ زړه سړیه دابل فکر و کړه دغه شی فکر کوه چه ور سره مخامخ یی،
کم عقلی مه کوه.

په جنګ غیږ بی وو بلنه کاشکی هلك راسره وای چه اوس یی را سره مرسته
کړی وای او دا صحنه بی لید لی وای.»

فکر بی وکړ په زړه ښت کښی دی هیڅوك یوا ځی پاتی نشی. خو ښه چار ده اوس خو زه یوا ځی پاتی یم باید. هیر نکړم چه هغه ته نامخکی تردی چه خوساشی و خوړم پام کوه زړه سړیه چه که اشتها لری که نلری باید سبا ته داته و نا و خوړی چه قوی پاتی شی په یاد لره.

دشپی دوه چونګاښان دغا کو ښار خوا ته را غلل. زاړه سړی بی دلانبوا و شکیالی غږو اوریده له شکیلی نراو ښځه سره ژوندل. وبی ویل، چونګاښان ښه ژوی دی. یو بل سره مستی او ټوکی ټکالی کوی او یو په بل مینږ وی. داهم لکه الو توتکی کبان زمونږ ورونه دی.»

بیا بی په غه اوی کب زړه و خوږید چه ده کړزه په چنګك کښی ګیر کړی و.
فکر یی وکړ عجیب کب دی. خدا زده چه د څو کلو به وی.

په درست عمر کی می داسی قوی کب نه دی لید لی. له ډیر ه ویښیار ی سره یی ځان شاته بولی وی که نه په ډیر و تر پ کو او ځغلا به یی کوږ راوران کړی و. شاید چه پخوا به هم څو واری ګیر شوی وی او پوهیږی به چه دخلاصی لار همدا ده. شاید چه په دی نه پوهیږی چه دیکی یوه سړی سره یی سر دی او هغه هم بوډا خو عجیب اوی کب دی. او که خیدای کول چه غو ښه یی ښه وی نو به په جګه بیه په بازار کښی خرڅ شی. د چنګك غو ښه یی لکه نر کب داسی و خوړه او کشکول بی هم د نر کب دی دلار هیڅ نښه په کښی نشته. نه پوهیږم چه په دی غلیتو ب کښی بی کوم چال دی او که نه دی هم ما غونډی حیران دی.

دده په یاد و چه یو وخت یی دمارلین له یوی جوړی څخه ښځه مار لینه نیولی وه. نرماهی همیشه په خوراك کښی ښځه له ځانه ړو مبی کوی. ښځه مار لینه په چنګك کی

په تربګواوتوپونووه. اوله ډېرېوارخطايي ځان تري ورك شوی و. نرمارلين تراخره ور سره و اودوري يې تري وهلې. چې زاړه سړي ښځه داو بوسرته راښکله نرهم ور سره پاس راغی. نر وړمره خپلې جوړې ته نږدې و چه زوړ سړي وېرېده چه په لکېړ به مزي پرې کړي. دمارلين لکېړ لکه لور داسې تېره او هماغسې دلاره په شان کېږه وی. کوم وخت چه زاړه سړي ښځه مارلينه نرهغې په سروو هله چه ډېر ستکي رنګ يې لکه دهېنداري د شا داسې زېړ شو اوبيايې دهلك په مرستې ماکو ته جګ کړ نرمار لين لا هم داو بوپه سرو. وروسته چه زاړه سړي د چنګك مزي پاکاوه او نوره شومه يې په چنګك کې پېيله نرمارلين د او بو له سره او چټ هـواته خېز کړ، چه خپله مانګرې په ماکو کښې وګوري او بيانو په او بو کې ډوب شو. داړ خو ګلالېړ رنګينې ښې يې زاړه سړي وليدې. زاړه سړي اوس فکر کاوه دازماد ژوند يوه ډېره غمجنه صحنه وه. هلك هم ورته خپه و او د واړو له مالينې بخښنست و غوښت اوژر موقصابې کړه.

زاړه سړي په جګ غږ وويل: «کاشکې هلك را سره وای.» او ذليمندې ډېروته يې تکيه وکړه. دلوی کب دروند والی يې په اوږ و حس کړ. فکر يې وکړ دازماګناه ده چه کب ځان په بند کې ګيروينې. ده غوښتل چه په ژورو تورو او بو کښې دڅو لو تلکو نو او چالبازېړ څخه لېرې وګرځي. ما غوښتل چه دې له هغو ژورو لېرو ځايو څخه راو باسم. او س دواړه سره يو ځای يو. نه زه مرستيال لرم، نه دی. زماګناه به داوې چه ولې د کب نيولو کسب کوم. خو څه چاره؟ زه د همدې دپاره زېږېدلی يم. بايد هېر ئې نه کړم چه رڼا شي نو تونا وخورم.

له سپيد وچاو دو څه پخوا دده شاته دها نورو مزو څخه يوو خوزيد. يوه شو چه کوم بل کب به بل چنګك کښې ګير شوی دی. په تيارې کې يې چاقو له تيکې وايست. د کب ټول زور يې په کينې اوږې واچاوه او لاس يې تير کړ دهابل مزي يې په چاقو پرې کړ. بيابې د بل چنګك مزې هم پرې کړ او ددواړو کړيو

ACKU

مږو سرونه یې سره غوټه کړل. ښځه یې د مږو په کړ یو کېښوده او غوټه یې نوره
هم کلکه کړه. اوس یې نو شپږ کړی د ذخیرې مږی لرل. ځکه چه
په هر چنګک کښې دوه کړی ذخیره وار دوه کړی په هغه چنګک کښې و چه
کب په کښې ګیرو. دا ټول سره غوټه شوي وو.

فکر یې وکړ چه رښتیا شي دا بل چنګک ځاو یښت وازي مږي به هم بري کړم.
دوه سوه وازي مږي او چنګکونه خورانه په سیند کښې پاتې شو. خیر نور به
بیا واخلم خو دا کب بیا نشم موندلی. نه پوهېږم دا بل کب چه یوه شیبه پخوا
ګیر شوی و ځنګه کب به و. مارلین به و یا به شارک. خو ما سره دومره وخت
نشته چه دې مې ازمیېلی وای. ښوشتال مې چه زر ځان تری خلاص کړم
چه له دې بل نه مې پاتې نه کړي.

په جګ غږ یې وویل «کاشکې هلك را سره وای.»

فکر یې وکړ هلك خو نشته او ګوري چه یواځې یې. ښه به داوي چه د هغه بل چنګک
مږي هم بري کړي. تیاره که نه تیاره مږي بري کړه او د ها نورو ذخیري پوري یې وتړه.
نو یې مږي بري کړ او د ذخیري پوري یې وتاړه. په تیاره کې کار کول ګران و
او یو وار کب ډده دا وږو مږي ته داسې ټکان ور کړ چه زوړ سړی یې پړمخې
ولوید او زیږمه یې زخمي شوه. وینې یې په باړ خو لږه لاړو کړه خو پخوا
تر دې چه زنې ته ورسیږي په لار کې وچه شوه.

بیر ته لیندۍ ته راغی او دړی ته یې تکیه وکړه. اوږه یې وښوروله چه مږي
د جوال په بل ځای راشي. بیا یې نو په ډېر احتیاط مل رنه د مږي نه د کب زور وازمایه
لاس یې د ما کو د تلو خواو ته کله.

فکر یې وکړ نه پوهیږم چه ولې یې ټکان راکړ ښایې چه سیم یې په شا ولیدلی وي،
د ده شا به لکه زما د ډېرې ډومره نه خوږیږي فکر یې وکړ که کب ډېر لوی هم وي
تر قیامته خو ما کوږ ځان پسې نشي راښکلی.

اوس نو ذخیره ډیره لرم هر څومره تلوار چه غواړي ورکولی یې شم.

ACKU

وې ویل: «که به تر هغه به درسره یم چه مړ شم.»

فکر یې وکړ دې به تر مرګه را سره وي. زوړ سړی د سهار د رڼا په تمه ناست و. تر رڼا پخوا هوا ډېره سړه وه او زاړه سړي ځان نور هم بېړۍ ته نژدې کړ. فکر یې وکړ تر هغه چه دې تیار وي زه به ور سره وهم. د سپېدو د چاو د ر سره سم یې مزی وایه چه په اوبو کښې ننوتلی و. ماکو په کرار کرار یون کاوه او د لمر لمړنۍ پلوشې د زاړه سړي په ښۍ اوږه ولګېدې.

زاړه سړي وویل: «ماکو د شمال خوا ته ځي. بېخېله جریان به د ختیځ خوا ته بیولی وای. کاشکې که د جریان سره مل شي. دا به ووښیي چه ستړی شوی دی. لمر نور هم جګ شو خو کب په همغه طرف روان و. زوړ سړی پوه شو چه لاندې ستړی شوی. یوازې یوه نښه وه. مزی له کبزوالی ښکاریده چه کب اوس پخوا د ووره په ژوري کښې نه دی. زاړه سړي وویل: «که خدای ورسره مل شي چه پاس خېز وکړي. ښه پرېمانه مزی ورته لرم.»

فکر یې وکړ چه مزی کش کړم چه چنګک یې خوله ژوبله کړي او خېز ته اړ شي. اوس رڼا ده، پرېږده چه پاس را وخېژي او خپل سبزي له هوا ډک کړي بیا نو په اوبو کښې ځان ډوبولی نشي. مزی یې کش کړ خو له همغه اوله شخ و او دی پوه شو چه نور نو تر دې زیات نه شخېږي.

فکر یې وکړ باید مزی ته ټکان ور نه کړم. په هر ټکان چنګک د کب خوله شېږي او چه کب خېز وهي نو وېرېږم چه چنګک به یې له خولې ووځي.

په هر صورت اوس د رڼا سره ښه یم تکړه شوم.

یا مزی بوري دلو خو یوه زېړه ښلاه نښتې وه خو زاړه سړي بېرته کوله ته هڅه ونکړه ځکه چه مزي ور باندې درونډو. دا همغه لوخې وې چه په شپې کې یې لکه داوړ چینجي داسې رڼا کوله.

وې ویل: «که په ما دېر ګران یې خو د تن ورځې تر پایه دې وژنم.»

فکر یې وکړ دوژلو نیت خو دې لرم.

دشمال لهخوا یوه وړه چوغکه دماکو خوانه راغله. داو به وپه سر ټیټه الو تله.
زوړسړی له ورایه ورباندې پوهیده چه ستړې ده.

چوغکه دماکو په دیواله کښیناسته. بیابیرته جګه شوه اودده لهسره یې دوه ره وخوړه او په مزی کښېنیاسته.

زاړه سړي پوښتنه وکړه «چوغکې څو کلنه یې؟ دادې لومړنی سفردی؟»

چوغکې ورته کتل. دومره ستړې وه چه کوزمزی ته یې هم نه کتل. پهمزی یې و کاری تاو کړی وی او وړاندې وروسته ځنګیده.

زاړه سړي وویل «چوغکې مزی کلک دی. بیخي کلک دی بیګا شپه خو به باد کښې ګیره شوی نه یې چهدومره ستړې یې. اخر به څنګه شې؟»

فکر یې وکړ اخر بهیې بازه خوري. څه بازه یې خوري چه دهمد وی دښکار دپاره سیند ته راوځي. خو چوغکې ته یې دبازې هیڅ ونهویل پوخو دده په ژبه نه پوهیده او بل بهیې لا دې داپخپله بازه وپیژني.

زاړه سړي وویل: «ښه ستومانې وباسه وړې چوغکې. بیانولکه دنورو مارغانو او کبانو او خلکو پشان خپل سر نوشت پسې ځه.»

شپې یې ملا پیره شخه شوی وه او غبزیدلی زړه ته یې داړور کاوه. ویې ویل: «چوغکې کهماسره پاتې کیږې پاتې شه. افسوس چهزه دلته ګیر یم که نه بادوان به می تړلی و او ددې نری شمال سره بهمې ساحل تهرسولی وې. خوزه دلته بند یم.»

پههمدې وخت کې کب مزی تهیو کلک ټکان ورکړ چه زوړسړی یې په لیندۍ وغورځاوه. کهتاریې نه وی ورکړی او ځان یې لیندۍ ته نه وای اړم کړی سیند ته به لویدلی و.

دمزی د ټکان سره چوغکه هم الوتې وه خودزاړه سړي ورته پام شوی نه و.

ښی لاس یې په مزی تیر کړ زخمی شوی و.

پهجنګ غبزیدلی وویل: «له دې نه ښکاریږي چه کوم شی ژوبل کړی دی.»

بیرته یې کش کړ چه وګوري په کب یې زور رسیږي که نه خوچه مزی ښه شخ شودی پوه شوچه نه کیږي.

وبي ويل: «د کبه اوس لکه چه په ځان پوهيږې. خدای شته چه زه هم ستا غوندې يم.»
شاوخوا ته يې سترګې د چوغکې پسې واړولې. ملګري يې غوښت خو چوغکه تللې وه.

فکر يې وکړ چوغکې لاړې خو تر ساحله ډېره ليار ده. واې مې کبه پرېښود چه په يوه ټکان مې دومره ژوبل کړي. لکه چه بې عقله شوی يم يا به د چوغکې سره په مرکه بوخت وم. پس له دې به يوازې خپل کار ته اړم شم. تونا هم بايد وخورم چه ورته کمزوری نشم.

په جنګ غبز يې وويل: «کاشکې هلک راسره وای او کاشکې مې لږ د ما لګه دځانه سره راوړې وای.»

په ګرازه يې مزی له ښي اوږې کيڼې ته راووست. په ګونډو شو او لاس يې د سيند په اوبو کښې ومانډه او هماغه يې يوه شيبه لاس په اوبو کښې نيولی و او خپل د لاس وينو ته يې کتل چه د نارنري رېښمې په اوبو کې روانې وې. دا د جريان يې ورو ورو په لاس لګېده.

وبي ويل: «د کب يون تر پخوا ډېر ورو شوی دی.»

دزاړه سړي زړه کېده چه لاس لږ نور هم د بحر په مالګينو اوبو کښې وساتي خو د کب له ناڅاپي ټکانه وېريده او بېرته ودرېده. لاس يې لمر ته جګ ونيو او تکيه يې وکړه. يوازې د مزي سور کېدو يې لاس پرې کړی و، خو د لاس کاري ځای يې و. دده له دې لاسه ډېره تمه وه او ژوبليدو ته يې خپه و.

چه لاس يې وچ شو وبي ويل: «اوس بايد تونا وخورم. لاس مې ور رسېږي.»

په ګونډو شو او په اوږده چنګک يې د ماکو د غولي لاندې تونا بيامونده او په ډېره پاملرنه يې په چنګک د ځان خواته کش کړه. ډېر يې پام و چه د مزو پسه کړي رونه لګېږي. مزي په کيڼې اوږې تکيه کړ او په ښي لاس يې تونا له چنګک وايست. چنګک يې بېرته پخپل ځای کېښود. يوه پښه يې په تونا کېښوده او د سر له خوا يې لکې ته تور بخو نې تر انګي تري بېلې کړي او چه شپږ کترې تري بيلې کړې د ليندۍ په ډډې يې وغوړولې.

چاړه یې په پرتاګه وموږله ، د ګېډ د هډو ګوتنه یې له لکۍ ونیوله او دما ګو
له څنډې یې اوبو ته واچوله .

ویې ویل : « ګمان نه کوم چه یوه تړانګه غونډه په‌خولې کړی شم . » چاړه یې
وایسته او یوه یې په‌سورسمه نیمه کړه . په کیڼی اوږی یې د مږی درونډوالی پروت و
او کیڼ لاس یې د څپړی په مینځ کی څیری واو په‌وینو لړ ند لاس یې په‌مږی پوری نښته .
خپل لاس ته یې وکتل « داڅنګه لاس دی ! » نو که داسی وی نو هم څیر نی شه .
خدای دې وکړی چه زما دخولې په شان لوی شی .

کوز یې تورو اوبو کښی مږی ته کتل ، فکر یې کاوه ، دلاس ګناه نده .
د ګېب سره دیړ وخت تیرشو او اوس هم لا ورسره وهلی شی . نور نو څه غواړی .
خوراك کړوه .

یوه ټوټه یې واخیسته او په خولې بې کړه . ورو ورو یې شخوندور باندی واهه .
ښه‌خوند یې و .

څانته یې وویل : ښه‌یې ژدویه او ټوله شیره یې وروه چه لږه‌مالګه یادلیموشربت
ور سره وای بد ښه خوند به یې کړی‌و .

له خپل څیری لاسه یې پوښتنه‌و کړه « لاسه څه حال دی ؟ لږ نور به‌هم د تا لپاره
وخورم . »

د تړانګی بله ټوټه یې په‌خوله کړه . ښه یې وژدویله او ژدوینه یې تو کړه .

« لاسه څنګه چل دی ؟ او که لا دوخته دی »

بله تړانګه یې په خوله کړه او ویې ژدویله .

فکر یې وکړ عجیبه‌غوښن کب دی . ښه شو چه‌ددی په‌ځای می ډالفین و نه نیو . د ډالفین
غوښه‌تر ټو نا خوږه وی خود غوښی شیره زیاته ده . له‌خوند ورشی نه‌دا ښه‌ده دی
چه سړی شیره دارشی وخوری ، کاشکی می لږه مالګه ارلی . خدای خبر چه لمر به
دا نوری تړانګی وچی کړی که به یې خوسا کړی . راځه چه ټول همدا اوس وخورم .
که وږی یم که نه یم ټوله به وخورم او ځان به تکړه کړم .

لاس ته یې وویل: «صبر کوه لاسه دتا دپاره یې خورم.»

فکریې وکړ کاشکې کوز داو بو کب ته مې هم غوښه ور کولی شوای، دې هم زما ورور دې. خو باید ځان ورته تکړه کړم او دې ووژنم. د غوښې ټرانګې یې دوه ځایه کړې.

ملایې سمه کړه او لاس یې په پرتاګه پاك کړ.

وېې ویل: «لاسه اوس نومزې خوشې کړه. په شپې لاس به یې ونیسم تر هغې چه ته خپله سپیتانه پرېږدې.» ه پښه یې په هغه مزې کېښود ه چه په کېڼ لاس یې نیولی وه او شا ته یې تکیه وکړه.

وېې ویل «خدای مې دې مل شي چه دلاس زخم مې د کاره ونه باسي. نه پوهېږم چه کب به څه را سره کوي.»

فکرېې وکړ اوس خو غلې دې او خپل پلان په مخ بیایې. دا پلان به یې څه وي؟ زما پلان څه دې؟ زه به داخپل دهغه په پلان برابر کړم ځکه چه دې تر مالوې دې که دې خیز وهې زه به یې مړ کړم او که دې ترا خره نه را وځي نوزه به هم ترا خره ور سره یم.

زخمې لاس یې په پرتاګه وموږه او د ګوتو ټټونه یې وایستل خو ګوتې یې شخې وې او لاس یې نه خلاصیده. فکرېې وکړ خیر دې دلمر سره به یې بخویلې شي. یا چه ټونا په نس کښې او به شي ګوتې به ځان پرا نیزې. که چیرته مې پخواتر هغې په کار شو په زوریې هم پرانیستې شم خو اوس مې دومره کېڼ لاس ته حاجت نشته. پریده چه پخپله خوښه خلاص شي او پخپله خوښه سره ورشي.

بیګامې چه مزې صافول ډېر مې وځوراوه. درسته شپه مې مزې ور باندې صافول او یوبل سره مې غوټه کول.

شاوخوا سیند ته یې سترګې وغړولې او لیده یې چه بیخې یوازې دې. خو کوز د بې په اوبو کښې رنګینه رڼا لیدله او مزې یې لیده چه غلې اوښوې په اوبو ننوتي و. موسمې بادونه لګیدل او وریځې یې کله خور ولې او کله یې را غونډ ولې.

ACKU

دهیلیو یوسیل بی ولید چه دسیند دپاسه کله جگی او کله‌ټیتی تیریدی . زو ړ سړی
پوه شوچه هیڅ سړی به سیند کښی یوائی نه دی .

فکر یی کاوه داخه چل دی چه ځینی په سیند کښی و یر یبژی . دی پو هیده
چه په بدو موسمو کښی خلك حق هم لری خواوس دطوفانو میاشت وه او چه
دطوفانو په میاشتی کښی طوفان نه وی نود کال ترټولو ښی میاشتی همدا وی .
دطوفانونښی سړی شوور ځی دمخه په هوا کښی لیدی شی . خو په دی شرط چه
سړی په سیند کښی وی له ساحله دانښی نه بریښی . دوریځوځیره هم له و چی بل
شانته ښکاری .

هسك ته یی و کتل . دوریځو اشناغونډی لکه دشیریخ ټوټی یو په بل ولاړی وی .
تر هغی جگی دسنبلی دمیا شتی دبڼی غونډی نری وریځی خوری وی .
وبی ویل:« کبه داموسم زمادپاره ښه دی او ستا د پاره نه . »

کین لاس یی لا شخ و خواوس یی ځان سو که سو که خلاصاوه . فکر یی
و کړ شخ لاس می ډیر بد ایسی . شخ لاس دخپل ځان سره خیانت کوی . که سړ ی
کانکی ووهی دنورو په مخ کی شرمیبژی، خوشخ لاس سړی خپل ځانته شر موی .

که هلك را سره وای راته موښلی به یی و، خوخیر دی خپله به و غز یبژی . لبژه
شیبه وروسته یی چه کوم وخت په ښی لاس دمزی زور واز مو یه او کوزیی ورته
و کتل دمزی پـه ذ او یی کـی یی څه توپیر و لید کین لاس یی په زورم
په خپل و را نه وواهه او مزی ته یی کتل چه ورو ورو په او بو کښی نیغیده .
وبی ویل:« کب پاس راخیژی . لا سه را څه جوړشه .خدای روی ته گوره جوړشه »

مزی ورو ورو او په شیبو شیبو ځنگیده . دما کود وړا ندی او به و بړ سید ی
او کب راو خوت . نور هم پاس را وخوت او به یی له اړخو تو یی شوی . د لمر په
رڼا کی یی ټول وجود ځلیده دشار نګ یی تور بخون چڼیا وه او داړخو لیکی یی
دلمر دپلوشی لاندی دلو نګ په رنګ وی . ور بوزیی لکه د دو بی کو تك دومره
اوږد او لکه نیزه داسی تیره وه دماهی ټول وجود یی له او بووووت اولکه ما هر

ACKU

لا مبو زنبیر ته په اوبو ننوت. زاړه سړي یې لکه ولیده چه لکه دلاره دمه په اوبو ننوتله.

ويې ويل: «زما تر ما ګو دوه فوټه اوږد دی.» مزی په تندۍ خو په یوه قرار په اوبو کې روان و او ښکاریده چه کب وار خطا نه دی. زاړه سړي په دواړو لاسو مزی هغومره شخ نیولی و چه شکیدو ته نژدې و. پوهیده چه که په کب زور وانه چوي نو مزی به د ځان سره یوسي او وبه یې شلوي.

فکر یې وکړ کب ډېر لوی دی او باید سزا ور کړم. پرې یې نږدم چه پخپل زور پوه شي او دې ته یې هم باید پرې نږدم چه په دې پوه شي چه که یو واري ځان راته اړم کړي شه چارې به را بانه وکړي. که زه دده په ځای وای نو به مې په درست طاقت مزی تر هغې کشکوده چه شلولی مې وای. خو شکر دی چه کبان د بنیادمانو قدر هوښیار نه دي که څه هم دوی تر بنیادمانو اصیل او قوي دي.

زاړه سړي ډېر کبان لیدلي و. ډېر یې داسې لیدلي و چه تر زرو پونډو ډرانه وو او دوه د غسې کبان یې نولي هم وو خو هیڅکله یوا ځي نه و. اوس چه یوا ځې او له ستر ګو پنا و د داسې کب سره یې سر شوی و چه په درست عمر یې نه لیدلی و او نه یې په درست عمر د داسې لوی کب قصه اوریدلې وه. د کیڼ لاس ګوتې یې داسې سره نښتې او شخې وې لکه د کجیر منو ګې چه یو په بل کلکې شي.

فکر یې کاوه آخر به ځان خلاص کړي او د ښي لاس سره به مې مل شي. درې شیان یو بل سره ورو نه دي. کب او زما دوه لاسونه. باید چه خلاص شي. که خلاص نشي ور ته لوی خجالت دی.

کب بیا ورو شوی و او لکه پخوا داسې روان و. زاړه سړي فکر وکړ عجیبه ده چه پاس را وخوت. دا ولې؟ داسې بې خیز کړه لکه ما ته چه ځان ښیي چه ګواکې داسې لوی یم. اوس بې له دې هم پوهیږم. کاشکې مې یو وار ور ښوولی شوای چه زه څرنګه سړی یم. خو بیا به یې زما شخ لاس لیدلی و. پرېږده چه د قوي سړي خیال را باندې وکړي او تر هغه به زه هم ځان ور ته تکړه کړم. فکر یې وکړ کاشکې زه کب وای.

ده سره هرڅه شته او ماسره یوائې پوهه او اراده ده په کرار ره کښیناست او اودریته بې تکیه و کړه کښې په شیبو لار وهله او ورسره ما کوټه ته ور او بو کښې روان و دشرقي شمال سره په سیند کښې لبزی څپې پیدا شوې او دغرمې سره سم دزړه سړی کینې لاس وغوړېده.

وبې ویل: «کبه بدزیری در کوم. غرمه ده». داوزې مزې دجوال بلځای ته وشوېاوه.
زوړسړی اوس دمه و، خولېز زېلی شا ته هم و. خوده خپلږز پلتوب په مخ نه راوړ:
وبې ویل: «زه په دې عقده نه لرم خو ددې کښې دنیو لود پاره به لس واری په مسیح اولس واری به په مریمې درود وواېم او قول دی چه را کښېونیسم د سپیڅلی کوهر زیارت ته به هم لاړ شم. هو، قول دی.

بې له فکره بې په درود ویلو پیل و کړ. کله به دومره ستړی شو چه درود به یې هیر شو او بیا به یې نو ژر ژر ویل چه پخپله یوایت دبل پسې وربه یاد شي. فکر یې و کړ دمریم درود د مسیح تر درووده آسان دی.

«درود دې وی پرتااې مریمې دخدای قول بر کت دې درسره مل وی د ښځو په مینځ کی ته مبارک که ئې او ستا دباغ میوه چه مسیح دی مبارک دی. سپیڅلی مریمې دخدای موری زمونږ ګنا هګارانو په حق کښې دغه اوس دمر ک په وخت کښې دعاو کړه. «وروسته یې زیاته کړه» سپیڅلی پیغلی ددې کب دمر ک دپاره هم دعا و کړه که څه هم ډېر ګلا لی دی.» چه یې دعا خلاصه کړه اوا راده یې قوي شوه دلیندی په دړی یې تکیه و کړه او په غیر ارادي ډول یې د کینې لاس د ګوتو په پستوالو پیل و کړ.

اوس هم لکه پخوا زېلی و.

که څه هم د اوبو له سره یوه نرۍ ربړه جګیده خو لمر اوس تو دو.

وبې ویل: «را ځه چه دهابل مزی د چنګک شومه تازه کړم. که کب غو ښتل چه بله شپه هم په ماتیره کړی نو بیا به خوراك ته اړ شم. دبوتل او به هم مخ په خلاصی دی او ګمان نه کوم چه چپ له ډا لفینه بل شي لاس ته راشي».

ACKU

«دړ الفین هم چه تازه او خورم تنده‌می پر ما تیږي. کاشکې نن شپه کوم الوتونکی کښې ما کرته را توپ کړی. افسوس چه ما سره نن نشته دده راته پام‌شوی وای. الوتکې کښې اوس ښه خوړ کیږي او توقې کولو ته یې هم‌حاجت نشته. باید خپل ټول زور وسپموم. زه نه‌پوهیدم‌چه دومره لوی دي خو د دې دومره لوی او عظمت‌سره‌سره‌یې‌وژنم.»

فکر یې وکړ دابد کار دی خوورته‌وبه ښیم چه‌د انسان‌له‌لاسه څه شیان‌پوره‌دي او انسان څومره زغمون لري.

ویې ویل: «هلك ته مې ویل چه زه یو عجیبه زوړ سړی یم او اوس یې درښتینولي وخت‌دي.»

زر واری یې هلك ته ټا بته کړي وه خوهغه خوشي‌و اوس یې بیا ټا بټو له. هرځل نوی وارو او چه دی به وربا ندې لګیاو نو دتیر وار په‌برخې کې‌به‌یې هیڅ فکر نه کاوه.

فکر یې‌وکړ کاشکې زه او کښې دوا ړه و یده شو او ځمر ی په خوب کښې وګورو. نه پوهیږم چه ولې په‌دې دومره نورو ژوو کې ځمری‌تر ټولومهم‌دي.

ځا نته یې‌وویل: «زړه سړیه فکر مه کوه. کرارد ړی ته تکیه‌و کړه‌او هیڅ‌شی مه‌در په‌یاد وه. کوز به‌او بو کې کښې په کوم کارلګیا دی نو ته هر څو مره چه کولی شي‌لبز بوخت شه.»

تیرما سپښین‌و اوما کو لا په شیبو شیبو اویو ه قرار روان‌و. خواوس شرقی شمال د کښې په‌مزی لبز نور زور هم اچو لی و او زوړ سړی په کرا ر ه د سیند د نر مو اوبو دپاسه روان‌و. دړو یې‌دمزی‌لاندې سپك او‌نرې‌نرې سوی کاوه.

دتیرما سپښین په یوه وخت کې مزی ناڅاپه په‌اوچتیدو پیل‌و کړخو کښې داوبو لاندې لبز را اوچت شو اوبس. لمر دزاړه سړی په کیڼ مټ اوملا او اوږی تیغ لګیده. یوه شوچه کښې دشمال لوید یځې خواته سم‌شوی‌و. اوس چه یې کښې یو ازی لیدلی و دځانه سره یې دلمبا په حال کې مجسم کولی‌شو. چنیا ر نګه

ښځې يې په دواړو اړخو کښې لکه وزرو نه وي او نيغې لګېدئې تــورې او به ښيرلي.
فــکر يې وکړ نو هېښم چه په دې دومره ژورو اوبو کې يې ستر ګې څو مره لار
ګوري . دده ستر ګې خــو غټې دي داس ستر ګې چــه د ده تر ستر ګــو
وړې دي په تياره کې ليد کولی شي . ماهم يو وخت په تياري کې ښه ليد لی شو .
داسې نه چه بېخي به رڼا نه وه خولکه پېشو چه په تياري کښې ليد کوي .

دلمرتاو او دده ګوتو پستولويې اوس کېنې لاس بېخي پرانيستې و او اوس يې
دمزې ډېرزور ور باندې اچولی شو . اوزې ته يې رپ ور کړ چــه مزې له خوږ
ځايه څه قدرې چپ شي .

ويې ويل:« کبه عجيبه شي يې چه لاسته نه يې . »

خپل ځان يې ډېر ستړې ستومانه ليده او د بلې شپې را تلو ته يې پام شو
او زيارېې وايست چه پام په نوروشيانو غلط کړي. لوی ټيمونه يې په ياد راوستل
او پوهيده چه دنيويارك ديانکي او دډيټرايټ دپړانګانو ترمينځ لوبه روا نه ده .

فکريې وکر دادويمه ورځ ده چه دلوبې نه خبرنه يم ، ستر ډيما ګو باندې
خوبايد باوروکړم ځکه چه دې هره لو به سرته رسوي ، که څه هم د پوندې په
هډو کو کښې خنډ دی ، له ځا نه يې پوښتنه وکړه دهډو کو خنډڅه شی وی ؟
مونږ کښې نيوونکې نــه ارو ، ايا دو مره درد بــه کوي لکه د سړی په پوندې
کښې چه دچرګ خنډ ننو ځی ؟ زه خو فکر نه کوم چه دپوندې خنډ يا د يوی
ستر ګې يادد واړو ستر ګو بايلل و زغملی شم او بيا هم لکه چرګ خپل جنګ ته
لا دوا م ور کړم : انسان دلويو ځناورو او مارغانو تر څنګ وړو کی دی ،
کاشکې زه دهغه ژوی غوندې واى چه ګوز د او بو لاندې دی ، خو د شارك
تر راتګه پخوا .

ويې ويل:« کــه شارك را برابر شي خدای دې په ما او پــه کــب دواړو
ور حميږ ی . »

فکر يې وکړ ايا ستر ډيما ګو به د يوه کب سره دو مر ه موده تيره کړې وای

ACKU

لکه دا زه یې چه تیر وم؟ زه باور لرم چه ده به تردې لا ډیره مو ده تیره کړې وه ځکه چه ترما ځلمی او تکړه دی، پلار یې هم کب نیو ونکی و، خو نه پوهیږم چه د هغه کې خنده به یې ز شت ډېر ژ و بلو ی؟ که څنګه؟ وئې ویله زه نه شم پوهید لی ځکه چه هیڅکله مې داسې خنده په پو ندې نه دې خټلې.

دلمر پریواته سره سم ور په یاد شو چه با ید ځان ته ډا ډ ور کړ ی، په کازابلا نکا کښې چه ده سین فو یکوس تور پوستی سره پنجه ور کړې وه، داتور پوستی د بندر تر ټولو قوی سړی و، یوه ورځ او یوه شپه یې څنګل د میز په سر په هغې لیکې ایښې وه چه په سپین تبا شیر کښل شوی وه، لاسونه یې همد اسې نیغ نیولي ؤ او منګولی سره کلکې کړې وی، هر یوه زیار ایست چه د بل لاس په میز څملوی، ډیرو خلکو ور باندې شرطونه تړلي و او خلك د کو ټې په رڼا کښې و تل او ننوتل. او زاړه سړی د تور پوستي مټ او مخ ته کتل، په هرو څلورو ساعتو کې ریفری بدلیده او ها بل ریفری به خوب کاوه، دده او تور پوستي دنو کانو له لاندې وینې روانې وی او د وی یو د بل مټ او سترګو ته کتل شرط والا خلك وتل ننوتل او په جګو چو کیو دیوال ته نژدې ناست وو، ټو لو ددوی ننداره کوله، دیوا لونه دلرګې و او اسمانی رنګ ور کړ شوی و، تیلي ډیوو خپل سیوری ور باندې غور ځول، دتور پوستي سیوری ډیر ستر و او چه شمال به څراغ لګیده دده سیوری ورسره په دیوال خوزیدل.

درسته شپه به برې کله دیوه او کله د بل په برخه ښکاریده، خلکو تور پوستي ته شیبه په شیبه شراب ور کول او ده ته یې دده سګرټ لګول، کوم وخت چه به تور پوستي شراب وڅښل ډیر زور به یې و اچاوه او یوو ارې یې نژدې دده لاس څملولی و، دی هغه وخت زوړ نه و بلکه د شا مپیو ن سا نتیا ګو په نامه یاد یده تور پوستي یې لاس درې انچه کوږ کړ خو ده بیرته نیغ ودراوه او پس له دې نو بوه شو چه تو ر پوستي یې ګیر کړی دی. تور پوستی یولوړ دنګ کلالی اتل و.

ACKU

دسپارد رتړ سره‌سم چه‌شرط والاؤوغوښتل لوبه مسا وی اعلان کړی اوریفری نه‌منل زاړه‌سړی‌ځپل قول‌زوروړته اړم کړاودتور پوستی لاس‌یی کوز کـړ. نوربی هم کوز کړترڅو چه‌یی په میز وغزاوه.لوبه دیکشنبی په‌سپار نښتی وه‌او ددوشنبی په‌سپارپای ته‌ورسیده.ډیروشرط والاؤځکه دلوبی بس کول‌غوښتل چه د و شـنبه د کاروورځ وه‌اودوی مجبور ووچه دبوری دبار ولو دپاره بند راویاد هوانا دسکرو شرکت ته‌لاړ شی. خوز اړه سړی‌لوبه د کارله پیله یخواخلاصه کړه .پس له د ی ورځی ډیره‌موده‌خلکوده ته اتل ویل. دهمدی کال په‌پسرلی کی یی‌بیاد تـور پوستی سره‌پنجی ور کړی. داو اری دومره ډیرشرطونه نه وواو په‌اسانۍ یی لوبه و گټله ځکه چه‌په‌هماغه اول‌وار یی‌دتورپوستی زړه غورځولی و .

وروسته ترهغی یی‌بوڅونور میچونه هم‌و کړل خونور یی‌بس کړه. بو ه شوچه که‌دی وغواړی دهرسړی‌لاس ځملولی‌شی‌خواخربه یی‌ښبی‌لاس‌له کب‌نیولو پاتی‌شی.

څوو اری یی په کیڼ لاس هم دامتحان دپاره میچونه و کړل خودده کیڼ لاس همیشه نامردی کوله اوهغه شی‌چه دهورنه غوښتل نه‌یی کول اوده‌هم وربانددی زړ ه نه ښه کاوه .

فکریی و کړ لمر می لاس ښه پوست کړی دی‌او که دشپی ډیر یخ‌نشی گوندی بیاشخ نشی . نه پوهیږم چه‌نن شپه‌به څه‌پیښی‌راو ښـی .

یوه الو تکه چه مخ په میامی روانه وه ددله سره‌تیره شو ه او زاړه سړی یی سیوری ولید چه دالوتو نکو کبانو ډله یی وترو له .

ځان سره یی وو یل:چه که دومره ډیرالو تونکی کبان‌شته نوضرور به ډالفین هم ورسره وی . دا وزی مزی ته یی‌و کتل اولبز یی‌را کش کړ چه په کب یی زور رسیږی که نه خو هیڅ نه کیده ه مز ی دومره شخ وچه شلیو ته نږدی و . دا و بو څاڅکی تر ی څڅیدل .

ما کو ورو ورو روان واوده ترهغه دالوتکی پسی کتل چه یی نورله ستر گو پـنـاه شـو ه .

ACKU

فکریی و کړ دالوتکی سپرلی به عجب خوند اری . خدای دې چه له الوتکی نه سیند څنګه ښکاري. که الوتکه ډیره جګه نه وی نو به په سیند کښی کبان لیدی شی. ډیر می شوق کیږی چه په یوی الوتکی کښی دوه سوه وازی جګ ورووړو د سیند په سر وګرځم او له پاسه کوز په او بو کښی کبان وګورم .

د کښتۍ نیوونکو په بیړی کښی چه زه د با دوان دستنی په سرولاړ وم له هماغو مره جګ ځایه می هم په اوبو کښی ډیر شیان لیدلی شو.

ډالفین له پاسه ډیر شیان ښکاری او داړ خو پټې او شنه خالونه یی رانه لیدل کیږی او تو له ډله سری لیدی شی . داولی داسی ده چه ټول ګړندی کبان په اړ خو کښی پټې او طلایی رنګ اری خو چه وزی وی او د چنګک د شو می بسی راشی نو داړ خو لینې کښی یی چهیالیکی پیداشی . چه دا به د قار نښه وی او که د ګړ ندی تګ نه پیدا کیږی .

لبز پخواتر دی چه تیاره شی کوم وخت چه ما کود هغو بوټو له مینځه تیر یده چه دسیند سره کوزوپاس تاویدل او لکه میښان چه د زیږ تلتک لاندی یو د بل سره مینه کوی یو په بل او ښتل . راوښتل دزاړه سړی خپل هاړ لندمزی ته بام شو چه ډالفین په کښی ګیر و .

ډالفین له او بو خیز کړ او دزاړه سړی ورته بام شو . اړ خونه یې دلمر په ډروستیو پلوشو کی لکه سوچه زر رانه و ځلیدل . له وا خطایه یی بیا بیا خیز ونه و هل .

زاړه سړی خپل غټه مزی په ښی لاس ونیوا و ځان یی ورو ښکاوه په کین لاس داډلفین مزی کش کړ او هرو اریی به را ښکلی مزی کینه پښه کیښود له او نوری راکشکوده . چه دالفون ما کوته نژ دی شو نو یی ټو بو ته زور ور کړ. زاړه سړی دړی ته تکیه وکړه او تو ربخون طلایی کب یی چه چهیا خا لونه یی لرل ما کو ته وخیژاوه . د ډالفین داړی به چنګګک خښی وی او تنی او لکیه یی دما کو به غولی ترهغه ترپکی وهلی چه زاړه سړی به کوتک په طلایی سر وواهه او پس له څو شیبو یی ریبز دیدا غلې شو ه .

له چنګکه یې خلاص کړ . بل سار د بن بې په چنګک کړ او مزی یې سینه ته ورغور ځاوه . بیا نو بیرته خپل ځای ته لاړ . کین لاس یې ومینځه او په پرتاګه یې ومونښه . وروسته یې زی له ښی لاسه کین ته بدل کړ او ښی لاس یې سینه کښې بری مینځه . لمر یې ولید چه په سینه کښې ډوب شو او خپل غټ مزی ته یې وکتل .

وی ویل : « د کب تنګ لاو روښوی نه دی . » خو چه دا ویو جریان یې په لاس وکوت نو یې د کب په یون کښې ښکاره تو بیر و لید .

وی ویل : « دواړه چپې به هم په ما کوبوری وتړم چه په شپې کی بې تنګ ورو کړی . کب خو د شپې دپاره هم ور ته تیار یم . » دی او زه هم ور ته تیار یم »

فکر یې وکړ . ښه به داوی چه دالفین ابزر وروسته خو شیرم چه وینه ئې په غوښې کښې پاتې شی . دا می چه وکړه نو به چپې هم په ما کو بوری وتړم اوس به ښه داوی چه کب لبز کړ اروسا تم اودلمر پریوا ته په وخت کښې یې و نه خورم . لمر پریواته د کبا نو دپاره ډیر سخت وخت وی .

لاس و نه یې هوا ته ونیول چه وچ شی بیا بې زی په لاس کښې ونیول او ځان یې په کرار کړاو ډړی ته ئې داسې تکیه وکړه چه مزی ډیر زور په ډړی راغی .

اوس یې چل راځی فکر یې وکړ خو په یادلره چه کب له هغه وخته چه په چنګک کښې ګیر شوی تراوسه وږی دی . لوی کب دی او خوراك ورته په کار دی . ما یو کب درست وخوړ او سبانه به دالفین هم وخورم . هغه وخت چه دا لفین پاك وم لبز به تری وخورم . د دالفین خوراك تر ټو ناسخت دی خو هیڅ شی به ډړی کښې اسانه نه دی .

په جنګک غبزیې وویل : « کب ښه حال دې دی . زه خو تکړه یم او دیوی شپې او ورځی دپاره خریدار خوراك لرم . در کا زه مادر کا زه . . »

خو په رښتیا تکړه نه و ځکه چه داوږو د مزی لاندې درد اوس له درده تیر و او داسې یو رقم کړ ختی په کښې وه چه دی تری ویره یده .

فکر یې وکړ خو ما تر دې لا بدې ورځې تیرې کړی دی . اوس خو می یوازې ښی لاس لږ زخمی دی او بل لاس می نرم شویدې لینګی می پخې تکړه او قوی دی او پر کب شبنلی یم

ACKU

اوس تیاره وه ځکه چه رسېدلي وو په میاشت کښې دلمر پریوتو سره سم تیاره شي، زاړه سړي دما کو چینجن لرګي ته تکيه وکړه او ځان یې په کلا کرار کړه. د شپې ستورو په ځلېدو پیل وکړ. ددې ستورو نومونه نه وزده خو پوهېده چه ډېر به تول وخت ژوي او خپل داري وطن اشنا یان به بیا مومي.

ويې ويل: «کب هم زما اشنا دی. دا سې کب یې به خپل تول عمر کښې نه لېدلی او نه مې اورېدلی دی خو باید مړ یې کړم. رښتیا ښه دی چه مونږ د ستورو وژلو ته هڅه نه کړي. ته فکر کوه که هره ورځ یو سړی د سپوږمۍ د مړ کولو هڅه وکړي خو سپوږمۍ تېښتېدي شي خو فرض کړه چه یو سړی د لمر د وژلو تکل وکړي فکر یې وکړ مونږ له موره نېك چانسه پیدا شوي یو.

وروسته یې بیا د کب دپاره خپه شو چه هیڅ خوراك یې نه و کړی خو په خپکان کې یې هم د کب د وژلو نیت له زړه و نه ایست.

فکر یې وکړ څومره خلك به ماړه کړي. خوایا دا خلك به دې ارزي چه دا کب وخوري. هېڅکاره ده چه نه ارزي. که سړی د دې کب لوبې او کړنو ته ځیر شي نو پوهېږي چه هیڅوك یې د خوړلو ارزښت نه لري.

فکر یې وکړ زه په دې شیانو نه پوهېږم خو ډیر ښه کړ دی چه مونږ د لمر سپوږمۍ او ستورو وژلو ته هڅه نه کوو. همدا بس دی چه د سیند د ورونو په وژلو ژوند کوو.

فکر یې وکړ اوس باید دما کو چاپېر وته فکر وساتم. هر څه چه کېږي باید د الفین شي یې کړم چه خراب نشي او ځان د تکړه ساتلو دپاره باید لږ تری همدا اوس وخورم. خو اوس حاضر باید یوه شیبه د مه وکړم او داسې ونګېرم چه کب یې څه سانه لري او کرار پروت دی او په همدې حال کښې د کب کړنو ته پام وساتم چه په تګ کښې یې کوم بدلون راغلی دی که نه.

چې په ما کو پورې نښلول عجیبه چم دی خو اوس له چه خبرتیره ده او باید ډومره کار تری وا خلم چه ما وساتي. کب لا تر اوسه تکړه دی او ما په خپلو سترګو ولید چه چنګك یې د خولې په کوټ کښې نیولی وا او زامې یې یو په بل کلکې کړې وې. د چنګك

ډېر د خوب ته هيڅ شی هم نه دی ځوځېږه دلته خرابه ده چه کب پوهېږی چه د داسی شی سره بې سرشوی چه دی يې نه غواړی . زړه سړيه اوس ښه دمه وکړه او پرېږده چه کب کار وکړی ترهغه چه ستا کار ته ضرورت پېښېږی .

د دوو ساعتو دپاره کرار شو . سپوږمۍ تر ناوخته نه راختله او دی نه پوهېده چه څومره وخت يې دمه کړی . چندياني دمه يې هم نه وه کړې خو يو څه وه . د کب د روندوالی يې په اوږ و پروت و خو کيڼ لاس يې دماکوږ ته و رووړ اند او ږی ډېر زور يې په دړې راوست .

فکريې وکړ چه که مزی می تړلی وای څومره به اسانه شوی وخو بيا به ئې په يو ټکان شلولی و . بايد د مزی زور په اوږو راولم او هره کړی بايد تيار اوسم چه که کب ټکان راکړی په دواړو لاسو مزی ور وغزوم .

ځانته يې وويل: «تا خو تر اوسه خوب نه دی کړی . نيمه ورځ او يوه شپه او داده بله شپه راغله او تا هيڅ خوب نه دی کړی . ته بايد داسی چل پيدا کړی چه که کب غلی وی ته خوب وکړی شی ځکه چه که خوب ونه کړی ماغزه به دی گډوډ شی .»

فکر يې وکړ اوس خو می ماغزه ټکه دی او فکر می روښانه دی داسی روښانه لکه داز مو ږ ورونه ستوری خو سره له دی هم بايد لږ خوب وکړم . ستوری بيد يږی . سپوږمۍ او لمر هم بيديږی او حتی بحرونه هم ... کله چه جريان په کښی نه وی او کرار وی خوب کوی .

په ياد لره چه خوب وکړی . ځان خوب ته اړ کړه او دمزی دپاره کوم ښه چل جوړ کړه اوس نو ورځه ډالفين دپوسته کړه . دخوب په وخت کښی ما کوپوري د چپو ترل خطر لری .

ځان سره يې وويل: «بې خوبه می هم وخت ترولی شو خو ډير خطر لری» په خپلو پړو دما کو بل سر ته ولاړ . ډيريې پام کاوه چه ما کو هيڅ ونه ښور يږی . فکريې وکړ کب به په خپله نيمايی ويده وی . خو زه نه غواړم چه دی ځان هوسا کړی دی بايد تر هغې مزی راکاږی تر څو چه ساه کښی وی .

ACKU

ډالفين ته په رسيدو بې د مزي زور په کيڼ لاس ز چاوه او په لاس ئې چاړه له تيکي وايسته،
د رڼو ستورو د ځلا نده او شولا نده ي بې دالفين رلېد . چاړه بې په سرور ومنډله
او د ما کوله غولي بې بهر راو کيښ . يوه پښه بې وربانده ي کيښوده او له نامه ئې
د واړو ستر گو تر کوته ځيري کړ . بيابې چاړه کيښوده او په ښي لاس بې
له نسه پرخړي وايستي . په نس کښې بې دوه الوتونکي کبان وو . دواړه تازه وا و
زاړه سړي ځنك په ځنك په غولي کيښودل او د نس لړي کولمې بې د ما کوله څنډې
سيند ته خطا کړي . پرخړي ورو ورو په اوبو کښې ډوبې شوې او
تر شايي يوه سپينه رڼه ايکه پرښوده . ډالفين د ستورو په رڼا
کښې سپين ښخون او ډنکي ښکاريده . په سر بې پښه کيښوده او
يره خوايې د پوستکي کړه . بيابې په بل اړخ واړاوه او له بلې خوابې پوستکي و کيښ او
بيابې پوستکي له دواړو خواؤ له سره تر لکۍ پرې کړ .
د کب هډوونه ئې د ما کوله څنډې او بو ته خطا کړه او کوزبې اوبو ته و کتل چه کوم گرداوې
په کښې پيدا کېږي که نه خوليده بې چه هډوکي څه شي ته کښته کړل او بخپله ورو ورو
ډوب شو . بيرته وگرځيدا او دواړه الوتونکي کبان بې ډالفين د غوښي په مينځ
کښې کښيښودل او چاړه بې بيرته په تيکي ومنډله او بيانو په ډېر پام ئې ځان ليندۍ ته
وځکاوه ، شا يې د مزي د زور لاندې کړه په وداوډا لفين بې په ښي لاس کښې نيولې و .
ليندۍ ته په را رسيدو بې ډالفين او دواړه الوتونکي کبان خپل څنګ ته په ډېرې کېنږو بل .
مزي يې بيا د اوږي په بل ځاي راووست او په کيڼ لاس بې ونيو او ډېري ته يې تکيه
وکړه . ځان يې د ما کوله څنډې کوز ځوړند کړ او الوتونکي کبان بې په
اوبو کښې پري مينځل او پر ورسره بې د اوبو گړندي توب په لاس وازمويه . لاس بې
د ډالفين د پا کولو نه را ښکاره کړ له . د اوبو جريان زغر دواو چه د لاس د ما کو په ډېرې
پا کاوه له لاسه بې ځليدونکي ښخري تلو بيدل .
وبې ويل [illegible] ستړي دي اويا بې ځان غلي کړي دي اوس نو را ځه چه ډالفين په [illegible]

لګیاشم او زړوسته ایز خوب وکړم .» په سړی شپې کښې یې دستوروروننه ته د الفین نیده
توته او یو الوتو نکی کب وخوړ .

وېی ویل: « د الفین چه سړی پوخ وخوړی عجیبه شی دی او اوم یې بیخی بد خوندوی
بیا به هیڅکله په ماکو کښې یې مالکی یالیدو سره ورنشم ».

فکر یې وکړ که زه ساده نه وای نو به مې درسته ورځ د ماکو په دیوا له دشینه
مالګینی او به شیند لی اوس به او به وچی شوی وای او ما الکه به په دیوا او پاتی وه .
خو زه څه خبروم چه د الفین به نیسم داخوه ی ترلاس پریوتو وروسته ګیر کړ . خو بیادم
زما یې فکری ده . اوس مې نوږدو یلی دی او خوله مې بی خونده نه ده .

ختیځ خوا اسمان په وریځو پټیده او هغه ستوری چه ده پیژندل یو په بل پسې
ورک کیدل . داسې ښکار یده لکه چه ماکو د وریځو په لړې کښې روان وی
باد هم دریدلی و .

وېی ویل: « دري څلور ورځې پس به دا خرابه شی خو نن او سبا به ښه وی . اوس
نو زه سړیه کښې لا غلی دی یو څه شیبه ویده شه .

مزی یې په ښی لاس ټینګ نیولو او ورونیی ورته تکیه کړ . ځان یې نور هم دې ته تکیه کړ
بیایی داوږې مزی ایز داوږو څوکی ته راو وست او کین لاس یې ور باندې کیښود .
ښی لاس می تر څو چه ورون ورته اړ وی مزی نیولی شی . که په خوب کښې مزی
ورته خوشی شی نو چه د کین لاسه تیر بزی زد به پری خبر شم .
په کین لاس مې ایزه سختی را ځی دا خو غریب کوټی په ژړا پوخ دی که زه شل دقیقې یا
نیم ساعت ویده شم بیا هم دی تکړه دی . مخکی بی تکیه و کړه او د مزی نول زور یې په
ښی لاس راغی او ویده شو .

په خوب کښې یې ځمری نه لیدل او د هغې په ځای یې دا ورد کشپا نو د له لید له چه
لس میله یې سیند ډک کړی و . دا نود کشپا نود سور الی دوم او له او بو به جګ
وال و تلا و بیرته به په او بو ننو ل بیایی خوب لیده چه دی په کلا له کښې په
کټ پروت دی د شمال له خوا باد لګیده . او ډېر ساړه دی او ښی

لاس بې خوب وړی ځکه چه ده د بالښت په ځای ور باندی سر اېښی دی و روسته
نو بیا د افریقې ژېړو شګلنو سواحلو ته را و ګرځېد او ځمری یې ولیدل چه
ورو، ورو ساحل ته را کوزېدل او نور ځمری ور پسې راتلل. ده بېړۍ په ژ ی ز نه
اېښی ده او ننداره ئی کوی بېړی لنګر اچولی و او کراره ولاړه وه. دې ننداروته
خوشاله و.

سپوږمۍ د بل وخت په آسمان کښې وه خو دی وېده و او کب په شپېږو روان و
او ماکو د کوړی کوړی وریځو له مینځه تېر یده.

په همدې کښې ؤ چه د زاړه سړی شپې سوك په شرق دده په مخ ولګیده او لاس د مزی
د شویېدو د تندی له کبله وسوزید. له خپل کیڼ لاس خبر نه و او دښی لاس په ټول زور بې
مزی کلك ونیو خو مزی لا هم په تندی شوییده. په آخر کښې یې کیڼ لاس په مزی
برابر شو او کش یې کړ. مزی ئې کیڼ لاس او اوږه دواړه وسوزول. کیڼ لاس یې
ټوله زوره اخستی وه او سوی یې کاوه بیرته یې د مزو کړی ته او کیل چه په ډېره
چټکتیا خلاصیده. په همدې وخت کښې کب پاس خیز کړل او ورسره د اوبو دښې ډېر و
شړپهار چکا شو. کب بیا اوبو ته واوید. بیا او بیا یې له ابو خیز کړل او ماکو
په تندی ور پسې روان و او مزی هم په چټکی غزیده زاړه سړی دومره پام مزی زور
اچولی و چه شکیدو ته نژدې شو. د مزی له زوره د لیندۍ د ډېر ته څو واري کیك
اړم شو او مخ یې د ډالفین ټوټې پورې نښتی و او ځان یې نشو شور ولی،

فکر یې وکړ همدې ورځې ته می کلونو را ځه کا له یې. د مزی کسات ترې
واخله، د مزی دهرې او یشتې کسات ور نه واخله.

ده د کب خیز نه لیده او یوازې یې د اوبو شیرل او د غورځیدو شړپهار اوریده،
د مزی چټکتیا یې لاس ونه پرې کول خو دی له پخوا پوهیده چه همداسې به شی او دومره یې
پام کاوه چه د لاس پاسته ځای ونه ژول نشی او یوازې بریږ او وزه ځای ونه پرې شی،
فکر یې وکړ که هلك دلته وای د مزی کړی به یې راته لمد وله. هو که هلك دلته وای.
که هلك دلته وای،

ACKU

مړی غزیده غزیده او لا پسی غزیده خو اوس هغومره په تندیه نه ووت.
دزاړه سړی په هر لویشت مړی د کب سره جګړه وه. اوس یې سر له دې پې او
دالفین له هغې ټوټې جګ کړ چه مخ یې ور پورې نښتی و. ویر یې چه زړه به یې
بد شي او کښا نکۍ به ور شي نو یې مخ پاك کړ او ښی لاس یې دما کو له څنډې
په او بو کښې پرې مینځه او هماالته یې په مالګینو اوبو کښې لاس و نیو او تر هغه ئې
څار کاوه چه دسهار لو مړنۍ رڼا خوره شوه.
فکر یې و کړ کب یې نیغ دلمر خاته خواته روان دی. مانا دا چه ستړی شوی
دی او دجریان سره ځي. زر به د وریو هلوته راو ګرځي بیا به نو دواړو ریښتیانې
جګړه شروع شي.
وروسته یې پام شو چه لاس یې ډیر. وخت په او بو کښې پاتې دی،
له او بو یې وایست او ور ته و ئې کتل.
و یې ویل: «دومره خو د کاره نه دی وتلی. سوی کوی خو درد نه ورته کومه
غټه خبره نه ده.»
مړی یې په ډېر پام مړا سی په لاس کښې و نیو چه په پړې شوو ځایو برابر نشي
او اوږه یې داسې و خوځوله چه کین لاس یې د ماکو په هابلې خوا کښې
د مینځلو د پاره وز کار شي.
و یې ویل: «کینه لاسه تا خو هم دومره نامردی و نه کړه خو یوه شیبه مې پیخې ورك
کړی وې.»
فکر یې و کړ ولي د دوو تکړه لاسو سره زه پیز بدلي نه یم. دا به زما ګناه وي چه
کین لاس مې ښه روزلی نه دی خو خدای ته ښکاره ده چه څومره مې خواری ور پورې
کړې او څومره چانسونه مې ور کړي دي. شپې خو دومره بد نه و او تش یو وارې یخ
و هلی دی که بیا یې یخ و وهی پرې به یې زدم چه مړی یې چور پرې کړی.
ځانته یې پام شو چه فکر یې خراب دی او باید دالفین غوښه و خوري نو یې ځانته
و ویل: «خوراك چې رته کولي شم. وږی نس ښه یې نه دا چه د الفین په خوراك

دې زړه بد شي . بیا به له کانګو ځان نشم ساتلی ځکه چه مخ می ور پورې نښتی و ،
راځه و به یې ساتم چه وروسته یې په کار نشي خو اوس د ځان د تکړه کولو وخت نه دی ،
ځانته یې وویل : « ته خو بد سا ده یې ولې هابل الوتونکی کب نه خورې ،
دوړ کب یې تر شنګ مینځلی او تازه پروت و . په کیڼ لاس یې جګ کړ او
خولې ته یې کړ . وروورو یې ور باندې شخوند وواهه او هډوکي یې وشپیلل .
فکر یې وکړ . د الوتونکي کب تر هر شي ډېره شیره او قوت لري .
لږ تر لږه هغه قوت چه ماته په کار دی . اوس د خپل وس پورې د ځان چاره وکړه .
اوس دې نو خپلې دورې وهی او په جګړه به پیل کوو .

دد ریم ځل دباره لمر را وخوت او ور سره کب هم په دورو پیل وکړ . زوړ سړي
د مزي له تاوید و نه پوهیده چه کب لا ما کو کړ چاپېر دوره کوی . په اوږو یې د مزي سپک
غوندې بار حس کا وه او په ښي لاس یې په کرار کرار مزی راښکه . د هر وار
کشکو لو سره به مزی دو مره شخ شو چه شلید و ته به نژدې شو او یله به مزی لږ څه
ډننه راغی . او زه یې د مزي له لاندې خلاصه کړه او په لاس یې سو که مزی ته کش
ور کاوه . په دواړو لاسو یې مزی ونیواو په ټول زور یې کش کړ . و چ زاړه لینګي
او اوږې یې د کشکو لو سره ریبزدلې .

ویې ویل : « دوره یې ډېره پراخه نیولې خود وره وهی . »

بیا یې نو پام شو چه مزی په ځای درېدلی او نه راځی . په دواړو لاسو یې تر هغه
کش کړ چه له مزي پرخه پرخه او به والوتې خو مزی د کب خوا ته به غزېدو پیل وکړ .
زوړ سړی په ګونډو شو او وروورو یې مزی پرېښود چه په تورو اوبو ننوځی .

ویې ویل : « کب د خپلې دورې لیرې برخه وهی . څومره چه می وس رسیږی
باید مزی هغو مره شخ و نیسم نو به یې دوره لا را لنډه شي . ګوندې یوه ګړۍ
وروسته یې وګورم . »

ویې ویل : « خو اول یې باید پړ کړم بیا به یې مړ کړم . »

خو کب هماغسې وروورو دوره وهله او زوړ سړي آن تر ډېره وګو ستړی او

ACKU

له‌خولو خیشتو، خواوس یې دورې تر پخوانیا پسته‌لنهې شوې وې او له مزی داسې ښکاریده چه کب لګیادی له‌ژورو او بو پاس راخېژي .

یو ه شیبه پخوا زاړه سړی تور تکی خپلو ستر ګوته مخامخ لیدل او دخولو مالګینې او به‌یې په‌ستر ګواو دستر ګو دپاسه‌په‌ړې شوی ځای کښې تویې شوې دې. دی له تور وټکونه ویریده . دستو مانیه په وخت کښې داټکی طبیعي شیان‌دي، خو د وه وارې یې ځان ضعیف شا نته ولید او سریې ګنګس شو . دی له همدې ویرېده .

ویې ویل : « په دې وخت کښې چه کب د و مره په نخر و رار و ان دی له انصافه لیرې ده چه مړ شم . خدای دې را سره مل شي چه ور ته پاتې نشم . سل وارې به‌زمونږ په مقدس پلاراو شل وارې به په سپیڅلې مریمې در ود ووایم خواوس‌یې ویلی نشم . »

فکریې و کړ زوړ سړ یه‌لوړه و کړه‌چه‌بیابه یې وایې .

په‌همدې وخت کښې یې په مز ی کښې یوټکان ولید. داټکان ډېردرو نداوزغردو .

فکریې و کړ کب‌سیم په نیبنوو هی . زه‌یو هیدم چه اخر به همد اسې کو ی . غریب ګوتې بله چاره نه‌لري . اوس به نوخیز کړی خوزه غواړم چه‌دی دخیز په ځای خپله دوره ووهی خودا خیز ونه ده ته ضروردی چه لږ ه هوا واخلي خو په‌هر خیزد چنګك خوله خلاصیږي اوو پرېږم چه یوواریې له‌خولې ونه‌و ځي .

ویې ویل: « کبه‌خیزمه وهه ـ خیز مه و هه . »

کب څوواري سیم ووهه او هر و اریې چه سر خوزاوه زاړه سړ ی مز ی لږ ور غزا وه .

« باید کب پرې نږدم چه ځان دېرڅوبل کړی . ماته درد فرق نه کوی خو که‌دی ژوبل شي ځان نشي ساتلی لیونی کېږ ی . »

پس له څو شیبو کب غلی شوا و نور یې سیم نه‌واهه او ورو ، ورو یې په‌دورې پیښه‌و کړه . زاړه سړی اوس‌مزی په‌اسانه کشکوده‌خو بیا وربانده ضعف راغی .

ACKU

په کیڼې لېچې یې دسنید او به واخیستې او پخپل سریې تو یې کړې. نورې او به یې په سرتو یې کړې او په لاس یې خپل ور میږ کرار کرار وموښه.

وبې ویل: «زه ستړی یم او کښې زړرا ووځی. ګوندې ځان ورته کلك کړم. زړه سړیه واردې خطانشی. هیڅ یې مه د ړېه یادوه.»

لینډی ته نژدې یې ګونډه ووهله او یوه شیبه یې مزې بېرته په او ږ وتېر کړ فکریې وکړ زه به اوس کرار کښېنم پرېږده چه دې دورې وهی بیا به نوورو سته ودرېږم او په راښکلو به یې بیا پیل وکړم.

زاړه سړی ته بده ښکاریده چه کب دوری کوی او دی له موقع څخه استفاده نه کوی او کب نه را کاږی خو چه دی دخپلی اوږې له مزې یوه شوچه کب دما کوخواته روان دی نو بیا ځید او مزی یې کرار کرار راښکه. مزی دده د هر کش سره په اسانی راما کوته نووت.

فکریې وکړ هیڅکله زه د ومره نه وم ستړی شوی. اوس نو تجارتی بادونه الوځی. ښه دی کب به په اسانه ساحل ته ورسوم. تجارتی بادونه ښه ملګری دی.

وبی ویل: «بل وارې چه کب ددورې لیرې برخه وهی زه به بیا لېزه دمه وکړم. په دویمی یا دریمی دوری کښې به یې لاندی باسم.

مزرینه خولۍ یې د سرشاته بېرته وهلی وه او ور وړو ما کوته تیت شو او لینډی ته یې تکیه وکړه.

فکر یې وکړ پو هیږې کانه کبه چه بېرته را کرځې ګیر به دې کړم. دسیند او به را جګی شوې وی، خودا یوائې دیوه ګلالی نسیم اثر و او زاړه سړی ته دا نسیم ساحل ته د تاودیار د ضرور و.

ویی ویل: «دما کومخ به جنوب غرب خواته واړوم نور نو نه ور کېږم. په سیند کښې سړی لار نه غلطوی.»

په دریمې دورې کښې زاړه سړی کب ولید. لکه تور سیوری دما کوله لاندې

تیرشو او شپایسه‌ړ پروخت تېر یده او پسی تیر یده . زوړ سړی بی اوږ دوالی ته هلك پك پا تی شو .

وبی ویل: « نه هیڅ امکان نه لری چه دومره دې او ږ د وی »

خو کب هماغومره او ږداولوی واو کوم وخت چه‌ددوړی په‌اخر کښی شل گزه له‌ماکولړې داو بوسرته راوخوت زاړه سړی بی لکه‌داو بود پاسه ولیده چه‌له‌لوی لاره نه‌هم جګه‌وه اولونګو رنګ‌یی لاره . کب داو بوسرته نژدی لا مېو وهله او زاړه سړی بی پلنی بڼی‌اوچڼیا پټی لیدلی .مخکینی‌پلنی‌بڼی‌بی په‌اوبوغوړیدلی‌وی .

زا ړه سړی یې ستر ګی هم ولیدی اودوه زاړه کبان‌یی ګر چاپیر تا و یدل . کله به‌بی ځانونه لیری کړل او کله به بی‌ده‌پسی‌ځانونه ونښلو ل . کله به‌بی کرار کرار دده په‌سیوری کښی‌لامبوو هله .هر کب‌دری‌فوټه‌اوږدواو دلامبو په‌وخت کښی به بی ځانونه لکه غیشی داسی اوږ ده کړل . زوړ سړی په خولو کښی ډوبو، خو نه دلمرله‌لا سه بلکه هرواری‌به چه کب دما کو خواته راته ده به‌مزی کش کړ زوړ سړی پوهیده‌چه په دوودورو کښی‌به‌دنږدی اودشلګی‌وخت‌راشی. فکر بی‌و کړ خو با ید ښه‌بی نژدې را ولم اوډېر نژدی‌نژ دی . شلګی‌بی باید په سر برابر نه کړم بایدزړه‌بې‌مـوخـه کـړ م .

وبی ویل:« زړه سړیه‌پام کوه چه ځان‌بای نلی اوتکړه او سی »

په‌بلی‌دورې کښی د کب‌شاله‌اوبورا ووتله خوله‌ماکولېز لیری‌و. په‌بلی دورې کښی بیاهم لیری‌و، خود اوارله اوبو جګ راوتلی واوزوړ سړی بوهیده چه کمـزی لبزنورهم راکاږی دماکواړخ ته‌به‌یی راولـی.

لادو خته‌بې خپل شلګی تیار کړی و . دشلګی یوسر په یوه ډېری پوري تړلی و او دېری کړیـ دلینډې لاندې په ټو کړی کښی پر تـه و ه . د کړیـ اخر سر په‌ماکو پور ې کللك غوټه شوی و .

کب په‌خپلې دورې کی دما کو خواته روان و . څیره یې‌لا ګلالی ښکار یده او په کرار کراری لامبووهله‌اویوائې پلنه‌لکه ښور یده . زاړه سړی مز ی به

ټول زور کش کړ چه رانژدی کړی . کبڅه را نژدې شو، خوبیابی مخ واړاوه او بله دوره یې شروع کړه .

زاړه سړی ویل: «وخومې شپوراږه اخرمې وښور اوه .»

بیایی په وجود ضعف راغی خو په ټول طاقت ئې په مزی زورا چولی و . فکریې و کړ وخومې شپوراوه . ګوندې په دې واریې لاندې ماسم . لاسونو را کاږی پښو ځانو نه ټینګ کړی زماد پاره ځانو نه تنګره وساتی ، سره ځان تنګره ساته تا خو هیڅګله ما سره ناځوانی نده کړې دا پلابه یې راولم .

خو چه دا پلایی د کب په راګرځیدو حیل ټول زور په مزی و اچاوه کب بیا مخ ترې واړاوه او بله دوره یې شروع کړه .

وبی ویل: «کبه اخر خو به مر کې ته اړشی . زمامر ګ ته دې هم ملا تړلې ده» .

فکریې و کړ په دی صورت به ددې لو بی نه هیڅ شی جوړ نشی . خوله یې ډیره وچه وه او غبزیدی نشو ، خو او بو ته هم ور کوزیدی نشو چه خوله لمده کړی .

فکریې و کړ باید داواریې نژدې را ولم . خدای زده چه د نورو دورو طاقت یې ولرم .

ځانته یې وویل: «زړه سړیه ته ډیر طاقت لرې . ته رقیامته پوری طاقت لرې .»

په بلې دورې کښې یې کب نژدې لاندې ایستلی و ، خو بیرته یې ځان سم کړاو کرار کراریې بله دوره پیل کړه .

فکریې و کړ کبه ته لګه چه ماوژنی خو حق لرې . ورزه تر تامې په درست عمر کی ښا یسته ګلالی او غښتلی شی ندی لیدلی ، نو راځه مړ می کړه خدای کړه به می چرت خراب وی چه څوک څوک مړه کوی . فکر یې و کړ زړه سړیه لکه چه سر دې څرخی . اپلتی وایی . ماغزه تنګره ساته او د میړه په شان یې زغړه .

یا د کب په شان . په داسی غږچه یې به ډیره سختی او ریده .

وئې ویل: «سره تنګره شه . تنګره شه .»

دوې نورې دورې هم تیرې شوې .

فکریې و کړ زه نه پوهیږم . دوه ځلی نژدې و چه ان په ما کو کښې ننوځی .

ACKU

زه به وهېږم . چه څنګه چل دی خو يو بل واري به هم زور واچوم بلوا ربه يې به مزي دومره زور واچاوه چه نژدې ودې پخپله ورسره پرېوځي خو پام يې شو چه مزي د کب سره راځي خو کب بيرته ځان سم کړ او به کراره يې په بلې دوري پيلو کړ. بلنه لګېدې به هوا کښې رپېده . زاړه سړي ځان ته ډاډ ور کړ يو بل وار به يې راکاږم . لاسونه يې سست سست کېدل او دسترګو تر مخ يې را نه تکي ځليدل . بيايې مزي کش کړ خو کب لکه پخوا په کراره ليرې لاړ . نو په فکر کښې ډوب شو او ورو ، ورو ماکو ته تيتېده ترڅو چه پرېوتو ته نژدې شو بيايې ځان سره وويل:

« يو بل واري به يې را کاږم . »

خپل ټول هغه زور يې چه ور پاتې و په مزي واچاوه او ټوله پخوانۍ اراده يې سره غونډه کړه او مزي يې پخپل ټول موجوديت را ښکه . کب ورو ، ورو دماکو خوا ته راغي او دماکو اړخ ته ورسيد . دومره نژدې شو چه د اړخ ښې نژدې دماکو په دېوا له لګيدې او دماکو څخه ورو ، ورو تيرېده . پلن اوږد وجود يې لکه سپين سوچه زر داسې و . د اړخو څنيا ليکي يې نيمايي به اوبو کښې پټې وې .

زاړه سړي مزي له لاسه وغورځاوه او پښه يې ور باندې کېښوده . شلګۍ يې په لاسو له سره جګه کړه او په ټول قوت يې د کب په اړخ د ښو ترشا و مانده . د کب د اړخ ښې د بنيادم د قد هومره جګې وې . زاړه سړي د شلګۍ د سر اوسپنه وليده چه په کب ننوته . پخپل ټول زور يې په شلګۍ تکيه و کړه او نور يې هم په کب کښې ننه ايست . ځان يې نور هم شلګۍ ته تکيه کړ .

کب را ژوندی شو او پخپل ټول اوږد او پرېړ وجود يې له اوبو پاس خيز کړه . دومره جګ يې خيز کړه چه له ماکو او زاړه سړي دواړو نه جګ شو و بيا نو په داسې شرپهار بيرته اوبو ته ولويد چه اوبه يې ان په ماکو کښې دزاړه سړي په ټول وجود و پاشلې .

به زاړه سړي د ضعف حالت راغلی و او سترګو يې هم ښه ليد نه کاوه ،

ACKU

خو په همدې حالت کښې يې د شلګۍ مزې صاف کړ او پړې يې ښو د چه د کب د تنګ سره کرار کرار وغزيږي .

کوم وخت چه يې ستر ګو ليد و کړ نو يې کتل چه کب په شا په او بو بروت دی او سپينه خيټه يې پاس ده . د شلګۍ ډا نګ يې په اړخ کښې نيغ ولاړ و او د سنيد او به د کب په وينو رنګينې کيدې . لو مړی داو بنې په شنو او بو کښې تـو رې ښکا ريدې . ورو سته نو لکه د آسمان وريځې خورې شوې ، ټخپله کب د سپينو زرو په رنګ بې حر کته د سيند د څپو په سر روان و .

زاړه سړی په هغو مره ليدچه ورته پاتې و د کب خوا ته کتل . بيا يې د شلګۍ مزی له لندې تاو کړ او سر يې په دوا ړو لاسو کيښو د .

« خدايه ! زما ماغزه ويښ کړه زه يو ستړی ستومانه بوډا يم ، خو کب مې و واژه . اوس مې نو د کار سخته برخه پيل کيږي .

فکر يې و کړ اوس نو بايد پړی ورته تيار کړم چه دما کو څنګ ته يې راول م . که هلك را سره وای او دواړو ما کو ته خيژولی وای بيا هم په ما کو کښې نه ځايده . هرشی بايدور ته له او له تيا کړم بيا يې را کاږم او ما کو پوری يې و تړم . بيا به نو د بادوان ډانګه لکه کړم او بادوان ور پوری و تړم او کرار کرار ساحل ته روان شم .

کب يې د ما کو خوا ته کش کړ چه پړی يې د غوږ وله سوريو تير کړی او له خولې يې و باسی او بيا يې د ما کو پورې و تړي .

فکر يې و کړ غواړم چه بووار يې په ما ړه نس و ګورم او لاس ور باندې تير کړم . کوم وخت مې چه دويمه پلا په شلګۍ زور واچاوه ګومان کوم چه د ده د زړه غبزمې او ريد ه . اوس يې را و له او سوټ پوټ يې و تړه بيا يې لکې ، هم غو ته کـړه او سر او لکې دواړه په ما کو پورې کلك و تړه .

ځان ته يې وويل : « زړه سړيه پيل و کړه . » يو غوړپ او به يې و څکلې . اوس يې چه جګړه ختمه شوې وه د کار درنـه برخه پيل کيد ه .

اسمان ته يې و کتل او بيا يې کب ته ستر ګې واړولې . فکـر يې و کړ لاغرمه ده

ACKU

اوموسمي بادونه لګېږي . نور مزي به اوس پرېږدم وروسته چه کاله ته ورسېږم زه او هلك به يې پاك کړو .

وی ویل : « کېږه نوراځه . » خو کب رانغی او هماغسې دڅپودپاسه پروت و ، نوزاړه‌سړی ماکوور ووست .

کوم وخت چه ماکوورسره څنګ په څنګ شواود کب سرلیندۍ ته برابرشو زاړه سړی بې په دومره اوږدوالي هیڅ باوررانغی . دشلګی پړی بی له‌ماکو پرانیست د کب له غوږ ویی تیر کړاوسر یی دپړی په بل سرو تاړه اودلیندۍپوري‌یی‌غوټه کړ . بیا یی پړ ی پر ې کړاو دلکیډ خوانه ولاړ . کب او س دخپل پخوانی چهیار نګه سپین اوښتیو ، خوپټې یې لاهم اسمانی رنګه وې . هره لیکه دښیا د م تر اویښتې پلنه وه او سترګی یی داسې لیری اواسرارا میزه ښکاریدې لکه چه دیوه مقدس سړي سترکی دتفکراو مراقبې‌په حال کښې ښکار ی .

ویی ویل : « دوژلو یوا ځینی چل یی همداوچه‌ماو کړ . »

له او بو څکلووروسته تر پخوانښه شواو پوه شوچه اوس نونه پا تی کېږ ی .

ماغزه یی هم ښه و .

فکر یی و کړداسې ښکاري چه تریو نیم زرومنوهم دروند وی . ښه که له درو برخو دوه برخې غوښې وی اوهرپاوپه دیرش پیسې خرڅ شي . ویی و یل « دې دپاره می قلم‌او کاغذ په کاردی . ماغزه می‌دومره کار نه کوی خوفکر کوی چه ستر دیما ګو به نن په ما و یاړ ی . ما په عمر کښې دهډو کی خنه نه‌دی لیدلی‌خولاسونه‌اوډډې می په رښتیا خوږ یږ ی . » فکر یی و کړ دهډو کی په‌خوند نه‌پوهیږم‌چه څنګه‌به و ی .

څو ك څه پو هیږ ی مو نږ ته ول به یې اروخونه‌به‌ور باندې پوهیږو . د کب سر ، ملاولکیډ یی په ما کوپوری و تړل . دومره سترولکه چه سړی دما کوپوری بل ډېرسترما کوو تړی . دپړی بله‌ټکړانګه یی‌پری کړه اود کب له‌خولی یی‌چاپیره کړه ، د کب خو له چه تړ لې و ی ما کوبه ا سا نه لار کوی . بیا یی دباد وان ډانګه لګه کړه اوپیوندی بادوان یی‌ورپوري وتاړه اوورسره یی‌ما کوپه تګ‌پیل و کړ .

زوړ سړی نیم په ماکو پریوت او دماکومخه یې دجنوب لوید یځ خواته کړه.

دجنوب لوید یځ دمونډلو دپاره یې قطب نماپه کار نه وا او پخپله موسمي بادوان او دبادوان راښکال بس و. فکر یې وکړ چه به داوي چه یوه وړه چنګک او بوته وځړوم چه د خوراك دپاره کوم کب په کښي ګیر کړم خو مزی یې پیدا نشو کړای، نو کوم وخت چه ماکو لار کوله ده په لاس دسیند لوخې و شکولې او خپل ځنګ ته به دېږي یې و ځنډل. له او ځي وړې وړې خزندې تويي شوې. زاړه سړي یې دشهادت په ګوتې سرونه و سکوندل او خولې ته یې وا چول او دپوستکي او لکید سره یې ژد و یل. داخزندې ډیرې وړې وې خودې پوهیده چه ښه خوند یې کاوه او څه قوت هم په کښي و. په بوتل کښي ددووارو شکلو دپاره او به پاتي وې. وروسته دخزندو له خوړ لو یې دیوه خوراك نیمایي برخه او به وڅکلې. ماکو ښه لار کوله او زاړه سړي په چپو لارورته تا کله. کب یې لیده اودلاسو او او زوله درده پوهیده چه ویده نه دی. دکب دراښکلو په یوه وخت کښي یې حال دومره خراب و چه یو ځل یې دځانه سره و ویل چه خوب به ګوري. بیایې چه کب ولید چه له او بو ووت ایله یې یقین شو چه کوم عجیب شي کوري او هیڅ یې په کب باور نه راته. بیایې نو ستر ګې له لیدو پاتې شوې خو اوس یې لکه پخوا داسې رو ښانه لید کولی شو.

اوس پوهیده چه کب ور سره دي اولاسونه او ډډې یې ویده نه دي.

فکر یې وکړ لاسونه ژر بیرته رغیبږي. ماتوك ماتوك کړاو د سیند مالګینې او به به یې جوړې کړې. دبحر داترو ي او به دلاسو دپاره تر هر شي ښه دارو دی. او س مې یوا ځینۍ وظیفه داده چه خپل ماغزه صاف و ساتم. لاسونو خپل کار کړی او ماکو پخپله لار سم روان دی. دکب خوله تړلې او لکید یې نیغه ولاړه ده او زه او کب دواړه لکه دوه وروڼه ساحل ته روان یو.

په ماغزو یې بیله ګډوډي راغله او فکر یې وکړ زه کب ساحل ته بیا یم که

کب ما بیایی که می کب دما کو شا ته تړلی وی، خو هیڅ خبر نه وه. که په ماکو کښې پروت وای بیا هم هیڅ خبر نه وه خو د واړه ښنګ په ښنګ روان وو او زاړه سړي فکر کاوه خیر دی که دی خوشالیږی دی دې هم بیا یی. زه تش په غولولو کښې ترده تکړه یم او ده غریب ګوتی مانه د زیان رسوا او هیڅ نیت نه لاره.

ماکو روان و. زاړه سړی لاسونه دسیند په مالګینو اوبو کښې ننه ایستل او زیاریی ایست چه ماغزه صاف وساتی. پاس یی په سر د تورو ورېځو شملی او دسپینو ورېځو کړی ګرځیدې او دی پوهیده چه موسمی باد به در ستنه شپه چلیږی. شیبه په شیبه یی کب ته کتل چه باوریی پرې راشی. دا نو یو ساعت دشارك دحملې له پیله پخو او.

دشارك حمله تصادفی شی نه و. شارك دا او بو له ډېر ژور ځای نه هغه وخت د کب داتون پسی را وتلی و چه د کب وینی په اوبو کښی خورې شوې وې، په ډېر زغرد پاس دشنو او بو سر ته را ووت او بیا یېرته په او بو ننووت او د وینی له بویه یی د کب دتلو لار بیا موندلی او دما کو په لوررا شیله شو.

کله به یې د کب بوی ورك کړ خو بیا به یی لارور برابره کړه. په ډېر زغرد او چټکی یی لامبو وهله. دا نو داسی یو شارك و چه د ډېر چټك کب نه هم چټك و. دشارك وجود هر اندام ګلالی و جګ د ده له داړو. شا یی اسمانی رنګه وه او خېټه یی دسپینو زرو په رنګ وه. پوستکی یی ښوی او ګلالی و. په چټکی روان و او داړی یی یو په بل کلکی کړی وې. داو بو له سره لیږیدې او دشا بڼو یی یې له دی چه ور ښور یېږی دسیند توری او به څیرولې. دد واړو تړلو شونډو دننه یی آ ته قطاره غاښونه وو چه ټول د ننه خواته کاږه وو. د ده غاښونه دنورو عادی شارکانو دغاښو په څیر نه وو بلکه د بنیاد ماڼو په څیر د ګوتو غوندي وچه دشي دنیولو دپاره لکه

منګولي داسې ګنډې شي . هرغاښ يې دزاړه سړي د ګوتې په اندازه اوږد و او دواړه خواوې يې لکه دځېږي دپاکې تيغ دومره تيرې وې . داسې ماهي وچه د سيند په تول کبانو زور زور و . هغه کبان يې خوړل چه دومره په قوي او چټك وو چه په ټول سيند کښې په ډېل دښمن لاس ور باندې نه بر کېده .

اوس نود کب د وېنې وږمو پسې روان و او دشاپه اسماني ښو يې د سيند اوبه څيرولې .

کوم وخت چه شارك درانګ په حال کښې وليد پوه شو چه داسې شارك دی چه له هيڅ شي وېره نه کوي اوهرڅه چه يې زړه غواړي کوي يې .

شلګې يې تيار کړ او پړی يې په ماکوبوري کلك وتاړه اودشارك راتګ يې څاره . پړی لنډ وځکه چه زاړه برخه يې ترې پرې کړې او کب يې ور باندې تړلی و .

دزاړه سړي ماغزه اوس صاف و او دې خپله له ارادې ډك وخو چندان يې امېد يې نه لاره . فكر يې وكړ كب ډېر ښكلی دی اوخدازده چه سلامت ورسېږي . چه شارك كب ته ژدې شو زاړه سړي كب ته وكتل .

فكر يې وكړ په وهلو خومې وهي خودې به هم ژوندي رانه خلاص نه شي . شار كه په موږدې نالت شه .

شارك په زغرد په كب غوټه وكړه او زاړه سړي يې پرانيستلې داړې او عجيبې ستر ګې وليدې . چه شارك د كب د لکۍ نه لږ ور بر خپلې داړې ښخې کړې دغاښو خرپايي زاړه سړي واورېده . دشارك سر له او بو اوچت و او شايي اوس راوتله . زاړه سړي د كب دپوست او غوښې دڅيري كيد واوشكيد و خرپهار اورېده . په همدې وخت کښې يې شلګې دسر په نيمايي برابر دواړو ستر ګو د مېنځ په ليکې ورو مانده . په هغه ځای يې دشلګې ګذار وکړ چه دستر ګو د مېنځ ليکه دهغې پزې سره يوځای کېده چه له پوزې يې دسر تر کوپړۍ تللې وه . زاړه سړي ته دې ليکو بله معنی نه لرله يوازې دشارك تور بخون اسماني رنګه سر او غټې ستر ګې او دغوښې خرپهار او لويې داړې وې چه ده نښه کړې و . دشارك ماغزه په همدې ځای کښې وچه زاړه سړي

ACKU

پرې ګذار وکړ. په مغولانو چه وېښې پګړۍ ټکۍ ټکۍ غوټه شوې وې، په ټول قوت يې تېره شلګۍ د شارک په سر را خوشې کړ. زاړه سړي په خپل وار باور نه لاره خواراده او پوره مهارت له ورايه په کښې ښکاريده.

شارک په اړخ و اوښت او زاړه سړي وليده چه په ستر ګو کښې يې د ژوند نښې نه وې. شارک په بل اړخ ور غښت. زوړ سړی پوهېده چه مړ دی خو ده نه منل. او بيا يې نو لکه زغر دما کو په شا په اوبو کښې منډه واخيسته. لکه چه بې لکه مترو که دې خو اها خو اخوزيده او داړې يې يو په بل لګيدې. په هغه ځای کښې چه د ده لګيده تر پيده او به سپينې وې او د وجود درې برخې يې د اوبو دپاسه وې. شارک لېژه شيبه همداسې غلی د اوبو دپاسه پروت و او زاړه سړي ورته کتل. بيا نو په کرار کرار ډوب شو.

زاړه سړي وويل: «د دوه نيم منه يې ترې يووړه.» فکر يې وکړ زما شلګۍ او درسته رسۍ يې هم يووړه. اوس به بيا کب وينې تويوي او درست نور شارکان به راخبر يږي.

نور يې نه کيده چه د کب پلو ته وګوري ځکه چه نيمګړی وو. ګوم وخت چه شارک حمله کړه وله ده ته داسې ښکاره شوه لکه چه په ده يې ګوته کړې وي.

فکر يې وکړ ده چه زما په کب حمله وکړه ما هم وواژه. دا شارک د ټولو هغو دورناټو لوی و چه ما تراوسه ليدلي دي او خدای خو پوهېږي چه ما په ژوندانه کښې ډير لوی شارکان ليدلي دي.

فکر يې وکړ ما ويل: چه کب ډير ګلالی دی او روغ نه رسيږي. کاشکې خوب وای او کاشکې مې هيڅ نه وای نيولی او کرار يوازې په خپل کټ کښې پروت وای او ورځپاڼې مې کتلې.

ويې ويل: «خو بنيادم د ماتې دپاره نه دی هست شوی. بنيادم محو کيدای شي خو مغلوب يدی نشي.»

فکر يې وکړ ډير خپه يم چه ولې مې کب وواژه. اوس يې نو ناکاره وختونه

ACKU

راځي او شلګي قدري هم را سره نشته . داور ناالتي ډېر ظالمان دي. قوي او هوښيار او ماهر هم دي. خوزه ترڅه شارك هوښيار وم يا به تش دومره وه چه ما تردښه وسله لرله . »

په جنګ غبږ يې وويل: « زړه سړيه فكر مه وهه . ما كو سيخ د ساحل خواته بيايه او هرڅه چه در پېښېږده ګاله يې. »

فكر يې وكړ خو بېچاره ريم چه فكر وكړم . په در ستي نړۍ كښې يو ازځي هېدا يو كب لرم . يو كب او يو د بېسبال او به . نه پوهېږم چه كه ستر ډېما ګوزه د شارك د وهلو په حال كښې ليدلي واي څومره به خوشاله شوي و . څالوي كار خونه و هرچا كولي شو خوايا فكر كوي چه زما لاسو نو دم لكه د ډېما ګود هډو كو خنډ دومره سوي كاره زه خونشم پوهېداي ځكه چه هېښكلله مي پو ند ي درد نه دی كړی چپ له يوه واره چه په لاسو كښي مي په يوه زهرار و نكي خزندي پښه برا بره شوه او په بوند ي بې وچيچلم . نو له پښه مي ورسره د كاره ولويدله داسي سوي يې كاوه چه نه مي شوز غملی.

وبي ويل: « زړه سړيه بداسې شې فكر وكړه چه زړه دې ښه شي . نه ګوري چه هره شيبه كاله ته نږدې كېږې ، څلوېښت پونډه هم سپك شوي او اوس به ماكو په اسانۍ چلوي . »

زوړ سړی ښه پوهېده چه كوم وخت چه د جريان سره ګډ شي د څه بلاسره به يې سر شي خو اوس يې هيڅ تياري نشو ورته كړای .

وبي ويل: « زلي تياري ورته نيولی نشم . خپله چاړه به د چپې په څوكه وتړم . »

نودی چاړه په چپې پوري وتړله .

وبي ويل: « اوس نو لا هم هماغه پخواني زوړ سړی یم خو بې وسلې نه یم . »

د سيند تاڼده وزمه لګېده او ده كرار كرار ماكو پورې واهه . يوازې بې د كب مخكېنۍ خواته كتل او زړه يې ابز داده شو . فكر يې وكړ نا اميدي ډېره كنو كار دی او زه وايم چه ګناه به هم وي . فكر يې وكړ د ګناه په باب فكر مه كوه په دېخ ګڼي دي بې له ګناه هم ډېر شيان شته چه فكر ور باندې وكړي او بيا دا چه زه

ACKU

چندیانی نه پوهیږم چه ګناه څه شی ته وایی او عقیده هم ور باندې نه لرم . ښایی چه دا به ما ګناه کړې وی چه کله می وواژه . که څه هم ما کله د دې دپاره مړ کړ چه ځان ژوندی وساتم او ډېر خلك مې هم مړه کړی خو بیا به هم د کله په وژلو ما ګناه کړې وی .
که داسې وی نو هرشی ګناه دی . فکرو ور باندی مه کوه زړه سړی په اوس کار له کاوه تیر دی او داسی خلك هم شته چه دوی ته د ګناه کول دپاره پیسی ملېږ کیږی .
پرېږده چه هغوی په ګناه فکرو کړی . ده داسی چه کله پیدا شوی ته هم کله نیوونکی پیدا شوی یی . سان پیدرو هم کله نیوونکی و او د ستر ډیما ګو پلار هم کله نیوونکی و .
خو دزاړه سړی خو ښېده چه د خپل محیط په هرشی فکرو کړی او ځکه چه نه ورځپانه ور سره وه او نه یې راډیو او له ئو یې ډېر فکر کاوه او ګناه یې په فکر کښی اړوله را اړوله . فکر یی کاوه . تا کله د دی دپاره و نه واژه چه ځان ژوندی وساتی او خلك ماړه کړی بلکه د ویاړ انی د ښودلو دپاره او دی دپاره دی و واژه چه کب نیوونکی یی .
ژوندی چه و در باندی ګران و او چه مړ دی کړ بیا هم در باندی ګران و نو چه دومره در باندی ګران وی نو وژل به یې ګناه نه وی او که څنګه .
په جګ غږ یې وویل : « زړه سړی په ډېر فکر مه کوه . . »

فکر یی و کړ خود مو ر نا لتی شارك په وژلو بد ښه خوشاله شوی .
دی هم دتا په شان په ژوندی کب ژوند کوی . دی لکه د نورو شارك کانو غوندی د ځان د مړولو پسی نه دی . ترڅو لو ښایسته او اصیل دی او ډار نه پېژنی .
ویی ویل : « د ځان د ساتنی د پاره می مړ کړ او په ډیره ښه وجه می مړ کړ . . »
فکر یی و کړ هر شی په یو ډول یا بل ډول بل شی وژنی . کب نیول همداسی چه ما ژوندی ساتی همداسی می وژنی هم . فکر یی وکړ باید ډېر ځان و نه غولوم .
دما کو د ډی ته یی تکیه و کړه او لاس یی تیر کړ بوه ټوټه چه غوښه یی له هغه ځایه وشکوله چه شارك شیر لی وه . ویی ژوو له او د غوښی ښه خوند ته یی پام شو .
د نورو غوښو غوندی کلکه او شیره لروونکی وه خو رنګ یی د نورو غوښو په شان

ACKU

سور نه و . ریښتیا او پلی بې نه ارلي او دی پوهیده چه په بازار کښی به په ډیر جګړه بیه خرڅه شي . خو اوس یې هیڅ چاره نلرله چه د کب بوی له او بوورک کړی او پوهیده چه ډیر خراب وخت په مخ کښی دی .

د سیند وږمه په یوه کراره او د شمال مخه ابزه نوره هم ختیځ خواته شوی وه او زوړ سړی له دې پوهیده چه شمال به د ومره ژر و نه درېږي . وړاندې یې و کتل خو د سیند په مخ د بل هیڅ ماکو بادوان نه لیدل کیده او نه یې د کومې بیړۍ ستنې او لوګی لیدل . یوازې الوتونکي کبان و وچه د ماکو چار چاپیر الوتل او د بحري رود بوز ږیړي تړانګې وې . د سیند په مخ نور هیڅ نه لیدل کیده او حتی په درست اسمان کښی یو مارغه هم نه و .

دوه ساعته یې لار وهله او وه او د ماکو د ډډې ته یې تکیه کړې وه او کله کله به یې د ماز لین یوه ټوټه غوښه وژ ژ وله . زیار یې ایست چه دمه و کړي او ځان تکړه وساتي . په همدې وخت کښی یې د دوو شارکانو څخه یو ولید .

په جګ غږ یې وویل: «اخ» . داخ د پاره ترجمه نشته او شاید چه تش یو غږ وي چه سړی یې هغه وخت یې ارداې له ستوني باسي چه میخ یې په لاس ور ننوځي او له ها بلې خوا یې وو ځي او په لرګي ننوځي .

په جګ غږ یې وویل: «ای حرامو نو .» اوس یې دویم شارک د شابنی هم ولیدې چه داو مړي پسې روان وو . د دریم ایر خېږي یې له تور بخون رنګه یې پوه شو چه داد هغو شارکانو څخه دی چه ور بوز و نه یې لکه د یامه د خوکې غوندې دي .

بوډ یې تبر سپېز هغو شوی و او ډیر په زغرد یې لا مېو و هله . د لوږی په بېړي کښی به یې کلمه لار غلطه کړه خو سره له دې چه اولی وار خطایېږه به یې هم هره شیبه کب ته نږدې کیدل . زاړه سړي د بادوان پوځکه په ماکو پورې وتړله او هغه چپه یې راجګه کړه چه چاړه یې په سر پورې تړلې وه چپه یې وروجګه کړه څکه چه لاس یې سوی کاوه . بیا یې د لاسو څپړې پرانیستلی او و یې تړلې چه ابزې پسته شي . بیا یې نو د چپې لاستی په دواړو لاسو

ګـلمك ونيو چه دوهلو پهوخت ګبنىيىلاس ورباندي ونه ښويېږي او دښار ګانو راتګ يى څاره او سريى ددواړو ښار ګانو سوروړ چپت اودپامه غونډيتېرهسررنه اوداړ خوبلنى سپينى بنى ليدى شوى. داډيره ګر ګجن ښار ګان و چه هم يى و ينه ښکله اوهم يى ګب مړ ګاوه اوچه وزى بهوپه چپواودماکوپهدړو به يى هم خو له ليګوله همدغه ښار ګان وو چهدسينهد ګشپ پښى بهيىهغهوختغرغولي چه ګشپان به دسينه په سرو يده وو . پهتېرو داړو بهيىپښى ترى بيا تي ګړ ي‌ـد اړو هما غسى به داوبو لاندي ورك‌شول دلوزىپهوخت ګښى بهيى پهغوبنيا دمانو هم حماي ګولى چه پهاوبو ګښى بهيىڅهشى پسى لاهبو ګوله ، پهروغو ښپادمانو به يى حملي ګولي چهنه بهيى ګوم ځاى زخمىواونه به يى په وينو ګګړو ،

وبىويل:داخ حرامو نوراځى ، حرامونو،

دواړه راغلل خوا‌لکه پخوانى ښارك داسى تيغ رانهغلل . يوښارك پهښاوا ووښـتاو دماګولاندي لهنظره پټ شو .دزاړه سړى دما ګو ټګان ته‌پام واوبوهيده‌چه ښارك لګيا دى له ګبه ګترى بيلوى ها بل ښارك پهزيړو ستر ګوزاړه سړ ى ته و ګـتـل بيانو پهخلاصو داړو په ګب ورسيخ شو اوپه هغهځاى يى داړى خښى ګړي چيهپخوا زخمى و .پهتور بخون سړاوشايى رنه ليګه ښګاريده زاړه سړى دچپى دسـرچاړه پههغه ځاى ومنډله چهدملانبردماغزوپورى ننيلي چاړه يى بيرته وايسته دښـا رك دپښو غونډى زيړو ستو ګو ګښى يى بيانيه ايستله .ښارك ګبخوشى ګـړ او لا ندى وښو بيداودمړ ګ په‌حال ګښى يى هم هغهغرښهلهستونى تېروله‌چه په خولى ګښى يى وه ما ګو لا هم دها بل ښا رك د‌ شو ګى لهلاسه اړزيده زاړه سړى د باد وان يوه پيڅـګه لهماګو خوشى ګړه چهما ګو بوپلوشى اوښارك‌يى لهلاندي ووځى دښارك پهليدو بى پهما ګو تـګيهو ګړه اووبىواهه .

چاړه‌يى په غوښى برابره شوه . دښارك پوستـګى‌پريږ وايلهيـى دچړي څو ګه به ګښى ننه ايسته . دګـذار دظرپ په اثر دزاړه سړى لاس‌اواوزى ووردېدى ښارك په تنديـ سرله او بوراوايست او ګوم وخت چه‌يى دړ وزله‌اوبوراوچت‌شو زاړه سړ ى

ACKU

برابر دسر په مینځ چاړه‌ور ننه ایستله . دچړې تیغ یې وایست او بیا یې بید و په هماغه لوښي ځای ننویست شارك لاهم په‌وازه خوله په کب پورې نښتی و بیا یې چاړه په کیڼې ستر ګې ورو منډله ، خودې هماغسې د کب پورې نښتی و .

زاړه‌سړي وویل : «نه‌مړ کیږي داچاړه په‌ماغزوور ومنډله ـ بیا یې چپی بل‌سر دشارك دداړو ترمینځ ومانډه چه خوله سره بیرته کړي چه‌شارك کب‌خوشی کړ زاړه‌سړي وویل : « ورځه حرامو نیه‌یومیل ژوړ ځه‌ولاړشه خپل ملګری و ګوره یا به‌دې ملګری نه‌وي مور به دې وي . »

دچړې تیغ یې پاك کړ او چپه یې په‌غولی کیښوده بادوان یې ځکه ونیوله او ماکو یې په خپلې لارې سم کړ .

په جګ غږ یې وویل : « لکه چه دښې غوښې ځلرمه برخه یې ترې یوړه . کاشکې خوب وای او کب می هیڅ نه وای لید لی . کبه خپل کار ته پښېمان یم . هرڅه رانه وران‌شو . »

غلی‌شو او نور یې نه غوښتل چه‌د کب خواته ستر ګې واړ وي . په کب کښې هیڅ وینه نه‌وه پاتې او دهندا رې دشا غو ندې سپین ځلیده . بیا یې لاهم ښکاریدې. وبې ویل : « کبه ماته پکار نه وه چه دو مره له‌ساحله لرې را و تلی وای . نه د تا شـوه او نه زما . کبه ډیر پښېمانه‌یم . » ځانته یې وویل : « اوس دچپی سرو ګوره چه مزي پرې شوي نه وي . بیا نو خپل لاسونه ورته تیار کړه ځکه چه نور لا راتلونکی دي . »

ګوم وخت چه یې د چپی سرو کوت او چاړه یې ولیدله چه کلکه‌وه .

وبې ویل : « کاشکې می دچړې دپاره بیلو ارلی. بیلومی باید دځانه‌سره راوړی وای . »

فکر یې وکړ ډیر شیان دی باید راوړی وای خو رادې نه وړل . اوس نو ددې وخت نه‌دی چه دهغو شیانو په برخه کې فکرو کړې چه درسره نشته . په هغو شیانو فکرو کړه چه درسره شته دي . »

په‌جګ‌غږ یې وویل : « ښه نصیحتونه راته کوې . ستاله ډیر و نصیحتونو موړ یم »

ACKU

ډانګه یې په ځمکې لاندې پټوله او په دوه لاره لاهو شوه. بې له اوبو کښې غوټه کړل .
ماکو د سا حال خراب نه روان و . وې ویل : « خدای پوهیږي چه آخري
شارك څومره پوره . خوښه دې ماکو اوس سپک شو . »

نه بې غوښتل چه د کب په زخمي نس فکر و کړي . پوهېده چه د ماکو هر
تګان دغوښې یوه ترانګه وه چه شارك له کبه بیولوله . په دې هم پوهېده چه
کب اوس ټولو شارکانو ته لکه عمومي سړك داسې په نښه و .

فکر یې و کړ: داسې کب و چه یو سړي بې درست ژمی ساتلی شو . په دې فکر
مه کوه زړه سړیه یوائې دمه و کړه او زیار و باسه چه لاسونه دې باتې برخې د ساتلو
دپاره اماده وساتې. زما د لاس دوینو بوی اوس دغه بوی په منځ کښې چه کب
په سیند کښې خپور کړی دی هیڅ نه دی . داسې ځای مې ژوبل نه دی چه ډېر
مهم وي . وینه له ښي لاس نه چه روانه ده، کېدای لاس به لا ښخید وته پرې نږدي .

فکر یې و کړ: اوس په څه شي فکر کولای شم . هیڅ شي . په هیڅ شي باید فکر
و نه کړم او د نورو راتلونکو ته و ګورم . فکر یې و کړ کاشکې رښتیا خوب وای .
خو څوك څه خبر ، کېدای شي سلامت حال ته رسېدلی وای . ای بیا شارك چه راغی یو ائې و
او ده هم د بام غونډی وربوز و .

د ځنځیر په شان مخامخ راغی که ځنځیر دومره لویه خوله لرلای چه د سړي سر
په کښې ځایېدای . زاړه سړي شارك پرېښود چه کب و وهي او بیا یې د چپې د سر چاړه
په ماغزو ورو منډه له . خو شارك شاته تګلان و خوړ او په اړخ وا وښت او ورسره
د چپې تیغ هم مات شو .

زاړه سړي ماکو چاو لو ته ځان برابر کړ .

شارك ته یې هم و نه کتل چه ورو ورو په اوبو کښې ژنګیده . او مړي لوی و بیا
وړوکی شو او بیا داوبو لاندې یو ځلا ځر کي ښکاریده . د زاړه سړي دا
ننداره ډېره خوښه وه خو اوس یې ورته هیڅ و نه کتل .

وې ویل: « اوس نو دوه چپې او ډانګه او یو لنډ کې کوتك راته پاتې دي . » فکر یې

وکړ شارکانو اخرمانۍ راکړه. زه‌یو‌بو ډاسړی یم‌او شارك په‌ګوتك نشم وژلی خو‌تر څوچه داد واړه چپی او‌ړانګه او‌لنه ګوتك راسره شته کـار به تری اخلم.

لاسونه بی‌په او‌بو کښی غوټه کړل. لوړ ماسپښین کید ونکی واوزاړه سړی چپ‌ا اسمان‌او سینده بل هیڅ شی نه لیدل. شمال تر پخوا ډیـرو او ده تمه لر له چه‌زر به ساحل وګـوری.

وبی ویل: «زړه سړیه ستړی بی‌هم ګوډ دی ستړی دی. ولی ځان غو‌ لوی؟»

ترلمر پریواتو پوری شار کا نوونه وا هه.

وروسته نوزاړه سړی تور بخو نی بڼی ولیدی چه دسیند په سرپه هغـی لار ې را روانی وی چه کب په او بو کښی جوړ وله. اوس بی حتی دبو ښ لټو ن هم نه کاوه او‌څنګ په‌څنګ نیغ دما کو په اور روان و و.

ړانګه بی ودروله او‌دما کو‌په بادوان پیچکه‌بی ور پوری وتړ له او د کـو تك پسی کوز شو. کوتك دیوی چپی‌لاستی وچه دوه نیمی لویشتی له‌چپی اره شوی و، لاستی‌بی‌وو‌ړو، نوبی یواځی په یوه لاس نیولی شو. په‌ښی لاس بی کلك و نیو او دشار کانود راتګ څاریـی کـاوه.

فکربی‌وکړ: بایدیو پریږدم چه کب‌ووهی‌او بیابی په‌وربوزیادسرپه کوبړی‌ـ ووهـم.

دواړو شار کانو په‌زغـرده حمله وکړه‌او چه یوه شارك په وازی خـولی خپلی داړی‌د کب په‌اړخ ښښی کړی زاړه‌سړی کوتك‌جګـ کړ اودشارك‌په‌پلن‌سر بی‌راپری ایسست. دشارك دهډو کو کلکوالی یی په لاس کښی حس کړ. بل وار یی کب په‌ور بوز وواهه اوورسره شارك له کبه ـکـوزو ښویید.

هابل‌شارك‌لګیاو کله‌به‌یی‌داړی‌ښښی کړی‌او کله‌به‌یی‌وایستی‌او‌اوس‌بی‌یاغوټی‌ته خو له خلاصه کړه. زاړه سړ ی د کب دغو ښی‌سپینی کتر ی لیدی چه دشار ك دزامو له ګوتـه تو‌ییدی. په‌همدی وخت کښی بی‌وواهه او‌وازه خوله بی ور باندی وتړله. کو تك یی دسر دپا سه بیا وځـر خاوه او‌په سر بی وارور کړ. شارك ورته وکتل اودغوښی بله کتره بی‌یله کړه. بیایی کوتك تاو کړ او‌دبی واهه. شارك

ACKU

دتیښتی په حال کښې و چه کوتک یې په سر برابر شو .

وبې ویل : « راځه حرامو نیه بیا حمله وکړه . »

شارك په تونده بیا حمله وکړه او زاړه سړی په هغه وخت کښې وواهه چه داړې یې سره وروستې داوار یې په زور وواهه او کوتك یې له ډېره جګه پرې راپرې ایست . دومره یې کلك وواهه چه دشارك د سر دهډوکې کلکوالی یې په لاس کښې حس کړ او بل وارېې په داسې حال کښې وواهه چه شارك غوښه شکولې وه . ددې وار سره له کبه کوز او بوته وښوییده .

زاړه سړی یې ځار کاوه چه بیا به راشی خو هیڅ یورا ښکاره نشو . وروسته یې یو دا و بو په سر ولید چه په ځای کښې چورلیده . دهابل دشا پښکی یې و نه لیده .

فکر یې وکړ : دځانه مې دومره تمه نه وه چه په کوتك به یې وژلی شم . په خوانیه کښې مې دا کار کولی شو . اوس مې هم دواړه سخت ژوبل کړی او دهیڅ یوه حال ښه نه دی . یاره که مې کوتك په دواړو لاسو نیولی شوای ، په دې زاړه ځان به مې هم هالو مړنی شارك وژلی شو . نه یې غوښتل چه د کب خوانه وګوری . پوهېده چه نیمایې فیصله شوی دی . دې دشارکانو سره په جګړې بوخت و چه لمر پریوتی و .

وبې ویل : « زر به تیاره شی ، دهوا رڼا به وګورم . که ډیر دختیځ خواته یم ، اودنور وساحل رڼا به وګورم . »

فکر یې وکړ : اوس به دومره لیری نه یم . خدای دې وکړی ، چه څوك راته پریشان نه وي . نور څوك خونه ، خو هلك به راته خپه وی ، خو زه باور لرم ، چه دی په ما ډاډه دی . د ساحل ډیر سپین ږیری به هم پریشانه وی . ډیر خلك به راته خپه وی . په یوه مهربان ښار کښې اوسیږم .

اوس نور زیاتې د کب سره نشو غښتل ځکه چه کب له کاره وتلی و . بیا یې فکر کښې شه وګرځیده او بې ویل : « نیمه کبه ! پخوانی کبه ! زه پښېمانه یم

ACKU

چې زلي دومره لري راوونم. په لوی لاس مې دواړه تباه کړل، خو کېږه مو نبز ډېر شار کان وو ژل ماو تا ډېر نور مو له کاره وایستل زړه کېږه! تا په ژوند کښې څومره شار کان وژلي دي؟ دا تېره نیښونه دي، خود ساعت تېري دپاره نه دي.»

اوس يې پیازړه کیده چې په کب فکرو کړی او په دي فکر وکړی چه که دی د او بو ژوی وی په شارك به یې څه کړي وه. فکر یې کاوه کاشکې مې د شارك د شاتېري پښې بريې کړی وای، چه یامی له هغو شارك وژلی وای. که داتېري پښې راسره وای او د چپې پورې مې تړلې وای عجبه وسله به وه نه جوړه وه. بیا به ما او کب د واړو د شارك سره جګړه کوله. که ټن شپه دربانه‌ی راشي څنګه به کړي؟ څه‌شي دې دلاسه پوره دي؟

وبې‌ویل: «جګړه به ور سره وکړم. تر هغې به يې ور سره وهم چه مړشم.» خواوس په تورې تیارې کښې چه هیڅ رڼا نه وه او يوازې شمال و چه لګیده او بادوان په شیبو شیبو ماکو را ښکه زاړه سړی ځان سره فکر کاوه، چه رښتیا به مړوی. لاسونه یې سره و دوښل او څپړی یې یو په بل ولګولې. بې‌حسه نه وي. دلاس د ګوتو په خوزو او کښې یې دژوند اثرلیدی شو، ځکه چه سوی یې کاوه. ودې یې دماکو په دړولګیدې. شانه‌یې‌تکیه وکړه او پوه‌شو، چه مړنه دی. او زوبی ورته وېل چه ژوندی یې.

څومره ډېرې وعدې مې وکړي، چه که کب مې‌ونیو، درود ونه او دوعاوې به وایم، خواوس ډېر ستړی يم، ويلې يې نشم. راځه چه جوال په او ږو واچوم ساړه دي.

پروت و او هماغسې په ملاستی يې ماکو دساحل خواته برابر ساته او د آسمان امن يې دساحل درڼا پسې څارله.

فکر يې وکړ: نیم کب لرم، دومره نیکمرغي خو به لرم، چه نیم کب ورسوم. څه‌نه‌څه طالع خو به لرم.

ACKU

فکر یی وکړ : نه تاله نیکمرغی سره هغه وخت خدای پامانی وکړه چه له ساحله دومره لیری راغلی .

په جنګ غبزیی وویل : « کم عقلی مه کوه ! ځان و ینښ ساته ! او خپل ما کو چلوه ! لا به هم نیکمرغی در سره وی . »

ویی ویل : « که چیرته یی څوك خرڅوی ، څه طالع به په بیه وا خلم . »

له ځانه بی پوښتنه وکړه : په څه شی به بی وا خلم ؟ . په خپل له لا سه تللی شلګی او مانی چړې او دوه بیکاره لاسوبه یی اخلم .

ویی ویل : «هوا وابه یی خلم . څلو راتیاورځی دی په سیند کښی ورپسی تیری کړې او نژ دې دې اخستی هم و . »

فکر یی وکړ : بایدنا کاره فکرونه ونه کړم . نیکمرغی په راز راز بڼوسړی ته راځی او څوك یی نه پیژنی . خو په هرې بڼې چه وی زړه می کیبزی چه لبز می ترې اخستی وای او هره بیه چه یی غوښته ورکړې می وای . کاشکی می د سا حل د رڼا شغلی لید لی . زړه ته می ډیر شیان کیبزی خو او س سمد ستی هم د ا د سا حل رڼا غواړم .

کو شش یی کا وه چه ځا ن تنکړه وسانی او ما کو وچلوی . دلاسوله سوی پوهیده چه مړ نه دی .

داسی ښکاریده چه د شپی لس بجی وې چه ده د ښار رڼا ولیده . اول یی د آ سمان په امن کښی یوه تته رڼا په ستر ګو ولیده . لکه د سپوږ مۍ د ر ڼا چه له ختلو پخوا خو ره شی . بیا نو د سیند د و یو په مخ چه اوس د شمال سره ګډ ځی ګو ځی و رڼا لیدل کیده . ما کو یی د رڼو او بو مینځ ته برا بر کړ او پو هید ه چه ژر به په جریان ور ګډه شی .

فکر یی وکړ : اوس نو تیره شوه . ښایی چه بیا حمله وکړی ، خو یو یی وسلې سړی هغه هم په تورې تیارې کښی څه شی کو لی شی .

ځان یی یخ بیخ واو دلاسواو ډوزخمی او زبلښو و ځایو یی د شپی د یخنی سره

سوی کاوه . فکریې کاوه : کاشکې بیا جنګ ته لاړ نشم .

ډېرمې زړه کېږي چه بل وار په جنګ وانه وړم .

خونیمه شپه بیاجنګ ته لاړشو او داوار پوهیده چه بیګټې جنګ دی .

په ګلو ګلو راتلل او ده یوا ځې هغه او زده لیکه په اوبو کښې لیدله چه : د دوی د شا بڼو جوړ وله . په لنډی کوتك بی به سر و واهه او دښار کانو ددا ړو خړ پهار به بی اوریده . ګلمه به د ما کولا ندې ننوتل ما کوبه ور سره و لړزیده . په ډېره چا بکۍ بی کوتك واهه . شارك یی نه لیدا وتش دځوږو په لار ښو د نې بی وار و نه کول . فکریې شو چه کوتك څه شی ورنه کښ کړ او بله شیبه بی کوتك تري وړی و .

او زده ډانګه بی له ما کو وشکوله او په دواړو لاسو بی جګواه او کوزه بې را بري ایستله . خوشار کان اوس ټول پاس ختلی و او یو دبل پسې بی ځو ټې کولې اوله کبه بی غوښه څیر له .

په آخر کښې یوشارك د کب دسرخواته راغی او زوړ سړی بوه شوچه بیا ورځی ګښې څه نه دی پاتې . ډانګه بی له سره تا و کړه او د شارك په سر بی راخطا کړه ، بیا بی له سره تاو کړه . د ډانګی د ماتیدو خړ پهار بی واوریده چه په سمه نیمایی ماته شوه . د ډانګی لاستی بی په تیږو د شارك په سر وماته . دمات شوی څوکی تیری لیښکی بی وایدی ، چه دشارك په سر ننو تلی . بیا بی وایسته او بیا بی به سر ور و منډ له . شارك کب خوشی کړ او په اړخ وا وښت . دا د ګلی آخری شارك و . نور په کب کښې د خوړلو شی نه وه پاتی .

زاړه سړی په ډېره سختۍ سا ا یستله او خولې بی عجیب شا نته خو ند کا وه . لګه د مسو غو ندی تروشې او بو وی . زوړ سړی و ویریده چه خو لبره شیبه وروسته بی د خو لی خوند بیرته ښه شو .

په سفید کښۍ یی لاړې تو کړی او ویی ویل : « خرا مونه واخلی ، دا وخو رې ، او بیا ورځی ، ملګرو ته لا ئی وهی ، چه موږ بنیا دم وژلی دی . »

ACKU

اوس نو پوهیده چه ماتې یې وخوړه ، د ړانګې لاستې بیا موند او بیرته یې په ماکو پورې وتاړه ، پوه شو چه له دې مات لاستې نه هم دما کو په چلولو کښې کار اخیستې شي . چوال یې په اوږو وغړاوه او ماکو یې بیرته د ساحل خواته برابر کړ ، اوس یې ماکو په آسانۍ چلاوه او هیڅ ډول فکر او احساس ورته پاتې نه و . اوس له هرشي خلاص وا و یوازې یې بندر ته د رسید و د پاره په مهارت ماکو چلاوه . وروسته نو روښار ګانو هم په کب حملې و کړې ، خو داسې لکه چه مارغان یې د خځو څو پسې ګوي .

ده هیڅ مخ ورو انه ړاوه او چپ دما کو له چاولوبې هیڅ شي ته پام نه و ، تش دومره یې پام و چه ماکو اوس بیخې سپک و او په اسانه چلیده .

فکر یې و کړ : ماکوتکړه دی او چپ له ړانګې نور بیخې روغ دی ، ړانګه به بیا بله ور ته جوړه کړم .

پوهیده چه اوس په جریان کښې دی . د بندر رڼا یې لیدلې شوه ، په دې هم پوهیده چه په کوم ځای کښې دی او ساحل ته رسیدل اسان کار و .

فکر یې و کړ : باد ز مو نږ ملګری دی . بیا یې فکر و کړ ، په سمندر کښې هم زمونږ ملګري شته . دښمنان موهم شته . فکر یې و کړ : کټ مې ښه ملګری دی . اوس مې کټ په کار دی بس . کټ به عجیبه خوند کوي . چه یو واری سړی ماتې و خوری بیا هر څه اسان شي . زه نه پوهېدم چه ماتې به دومره اسانه وي . پوهیږې چه څه شي ماتې در کړه ؟

و یې ویل : « هیڅ شی . ډیر لرې را وو تم »

کوم وخت چه په بندر ننووت د چوترې رڼا ته بې پام شو چه بله نه وه . پوه شو چه ټول و یده دي . شپه پخه وه او د سیند وږمه په قوت چلیده . په بندر کښې چو په چوپیاوه . زاړه سړې ماکو یوې لوبې ګارې ته نژدې ودراوه . هیڅوک نه و چه مرسته ور سره و کړې نو یې ماکو پخپله څو مره چه یې امکان لاسه کیده وچې ته نژدې کړ . بیانو ترې کوز شو او ماکو یې په ګارې پورې

ACKU

وتاړه. د بادوان توغه یې له لکړې تاو کړه او په اوږو یې کړه. په همدې وخت کښې یې دځان ستومانۍ ته پام شو. یوه شیبه په ځای ودرېد او بیرته یې او بوته وکتل. د کوڅو په رڼا کې یې د کب پلنه لکۍ ولیده چه دما کې شاته نیغه ولاړه وه دملا د تیرلیکه او غونډاري سرېی ولیدل او د کب د هډو کوتشه پنجره یې په سترګوو لګیده.

په بورته کیدو یې پیل وکړ او چه سمې ته را و خوت ولوید. څه شیبه یې بادوان په اوږو او دې پروت و پاځیدو ته یې هڅه وکړه، خوونه شو. همغسې بادوان په اوږو ناست و او مخامخ لارې ته یې کتل. د سرك په هابله غاړه یو پیشو روانه وه او زاړه سړی ورته کتل.

بیابې نوتش سرك ته کتل.

په اخر کښې یې بادوان په مځکه کښېښود او ودرېد. بادوان یې جګ کړ او بېرته یې په اوږو کیښود او په سرك روان شو. تر څو چه خپلې کوډۍ ته رسیده پنځه وارې دمې ته مجبور شو.

کوډۍ ته په رسیدو یې بادوان دیوالې ته تکیه کړ. په تیارې کې یې د اوبو بوتل پیامونډ او یو غړپ یې تری وکړ. بیانو په کب پرېووت. بړستن یې په اوږو او بیا یې په ډډو اولینګیو کش کړه او په مخې دور ځپا نبود پاسه څملېدو ور.

دې لا ویده و چه هلك سهار دوره له خولې دننه وکتل. دومره زور ور باد لګیده چه په دې ور ځ ماکو ګان سیند ته نه وتل. هلك تر ناوخته ویده و او بیا نو اکه هرسباد زاړه سړی کوډۍ ته راغلی و.

هلك ولیده چه: په زاړه سړی کښې ساه وه. د زاړه سړی لاسو نه یې ولیدل او ژړدې وچه په چیغو سرشی. خو په کرارې د باندې ووت چه زاړه سړی ته تو د چای راوړی او په درسته لارې یې ژړل.

په ساحل کښې ډېر کب نیو ونکې د زاړه سړی دما کو ګرچا پیر ولاړ وو او د ما کو بورې تړلی شی ته یې کتل. یوه سړی خپلې پایڅې بډ وهلې او اوبو ته

ACKU

کوز شو . په‌یوه مزی یې د کب‌تنه‌اندازه کړه .

هلك دوی ولیدل، خو ور کوز نشو ځکه چه تر نو رو لادو خته د لته را غلی‌و او ما کو یی په یوه کب نیو و نکی سپارلی‌و .

یوه له ساحله هلك پسې چیغه و کړه : « څه حال لري ؟ »

هلك غبز و کړ : « و یده دی څوك د ی نه‌و رځي . »

خلکو یې ژړ الیدله خو ده پروا نه کوله .

هغه کب نیو و نکی چه د کب تنه اندازه کوله هلك پسې غبز کړه « له لکۍ نه تر پوزې‌پورې اتلس فوټه‌دی . »

هلك و و یل : « د ر سته ده . »

هلك باز ار ته ولاړ او له دو کاندار ه یې یوه قطعه کافی وغوښته . و یې‌ویل : « ښه سره کافی‌را کړه چه‌ډېرې شودې او بوره ولري . » دو کاندار وویل: « نور » .

« هیڅ . بیا به و ګورم چه نور څه غواړ ی . »

دو کاندار و و یل : « عجیبه کب دی . داسې کب مې هیڅ‌یرې نه دی لیدلی . هغه دوه کبان‌چه تاپرون راوړل هغه هم ښه کبان‌وو » دهلك‌شونډې مړې‌مړې شوې او ویې‌ویل : « بلادې زما په کب شی . » دو کاندار وویل : « څه‌څښاك‌دې په کار نه‌دی ؟ » .

هلك‌ویل : « نه‌خلکوته‌وایه سانتیاګو له‌خو به‌یانه څوې . زه‌بیارائم »

دو کاندار وویل : « ورته‌وایه چه‌دی درته‌خپه‌و . » هلك‌وویل : « تشکر . »

هلك دزاړه کافی سره قطعه دزاړه سړی کوډې ته‌یووړه‌او ترهغې یې ځنګ‌ته کېناست چه ویښ‌شو . یوخواتردې‌هم‌بوواریې‌په‌ځای کېني‌داسې‌ښوریدلی و لکه‌چه ویښ شوی وی خو بیرته په درانه خوب پریوتی و . هلك له کوډې و ووت چه د کافی دتودو لو دپاره له‌چاڅخه لرګی‌پور کړي . اخرزوړسړی‌ویښ‌شو .

هلك لبزه کافی‌به‌ګیلاس کښې تویه کړه اوویې‌ویل : « مه‌پاڅېږه هه‌داو څښه . »

زاړه‌سړی کیلاس واخیست او کافي یې وڅښله .

ویې‌ویل :«ماښو لینه‌شار کانوماتې را کړه.پوره‌ماتې‌یې را کړه.»

هلك‌وویل:«هغـه خودر باندې زور ورنشو. کب‌ښیم »

زاړه سړی وویل :«نه‌خووروسته مې‌ماتې وخـوړه »

«پیدریسکـومې کښینولی چه‌ما کووسانې ته څه وایی چـه د کـب سـردې څنګه شی ؟»

«پیدریکودې‌سرپړې کړی اوځان ته‌دې د کب نیوا و شومه‌ورنه جـوړه کړی.»

«د کب نیش څنـګه؟»

«نیش ته که‌دې شوق ورته کیږي ؟»

هلك وویل:«هو!شوق می‌ورته کیږي‌اوس‌نو باید دنوروشیانوبندوبستو کړو.»

زاړه سړی‌وویل :« چاراپسی اتون ونه کـړ ؟ »

هلك‌وویل : «ولی نه‌الوتکی اوساحلی سا تونکودرپسـی‌لټـون‌و کړ . »

زاړه سړی وویل : «بحرډیر لوی دی‌اوما کوووړ. »

دزاړه سړی‌پام شو چه‌څومره شه‌وی ددی په‌ځای چه‌سړی د ځا ن او سیند سره وغږیږي،دبل بنیادم سره‌مر که و کړ ی .

ویې و یل : « ډیر می یاد یدې . تاڅه شی نیو لی ؟ »

هلك‌وویل : « « یومی په لومړ ی ورځ ونیو،یومی په‌دویمه ورځ او د وه می په دریمه ورځ ونیـول . »

« ډیر ښـه .»

هلك و ویل : « پس له د ې‌بیا زه‌اوته یوځای کبان نیسـو . »

زا ړه سړی‌وویل : « نه زه نیکمرغه نه یم . » زمادنیکمرغۍ دور ان ز یا تی تیر شو . »

هلك و ویل : « بلا دې په‌نیکمرغۍ شی . زه به‌یې دځانه سـره‌راوړم . »

« پلار به‌دې څه و ا یی ؟ »

«هرڅه چه‌وایی وایی دي . دوه کبان‌می پرون ونیول خو نو ر ستا سره کبان نیسم ځکه چه ډیر شیا ن باید لا زده کړ م . »

ز اړه سړ ی وویل:« داو اری به‌یوه ښه نیزه‌جوړه کړو او تل بی په‌ما کو کښنی د ځانه سره وساتو - . تیغ خوبی دزاړه موټرله فنر څخه‌جوړولی شو . ټټارته به‌بی و ر کړ وچه ښه‌بی تیره کړی. باید ښه‌تیره‌وی‌اومات‌نشی.زماچاړه‌ماته شوه . »

هلك و و یل : « بله چاړه به درته و اخلم . فنر به‌هم ټټارته یو سم د ا سیلی به‌څوورځی‌وی ؟ »·

« د ر ی ورځی . یا به تردرو ز یاتی . »

هلك و ویل : « ز ه به د هرشی سرشته ونیسم . ته دې د لا سو غم وخو ره چه جو ړ شی . »

« دلا سو چاره به و کړم خوشپی می څه عجیبه غوندې خوند تر خو لی شو او داسی راته وبر یښیده چه‌د سینی په‌مینځ کښی می کوم شی‌مات‌شـوی‌وی . »

هلك و و یل : « دهغی چاره هم و کړه کرار پر یو ځه . زه به دې پاك کمیس درته راوړم . خوراك ته‌به دې هم څه شی در برابر کړم .»

زاړه سړی وویل :« زمادتلو نه‌پس کوما خبار که‌وی‌دځانه سره‌یی‌راو ړه . »

هلك و ویل : « ته باید ژرد خیره سره‌روغ شې چه ډیر شیان درنه زده کړم .په سیند کښی‌دې څومره تکلیف ولید ؟ »

« ز ښت ډ یر » .

هلك و و یل : « ته کرار د مه و کړه . زه‌به ډو ډ ی‌او اخبار را وړ م . ستاد لاسو دپا ره به هم څه دارو راوړم . »

« هیردې‌نشی چه پید ریکوته ووا یی چه د کب سر دده شـو .»

«نه،نه‌می هېر یېزی »

هلك له کوډی‌ ووت او پر ښو ډك سرك روا ن شو . په لا ر ه کښی بی بیا په ژ ړ ا پیل و کـړ .

ACKU

په دغه ما سپښین د ګرځیدو یوه ډله دساحل په شګو راغونډه شوې وه. په او بو کښې یې د بیړد تشو قطیو او ما کو ګانو ننداره کوله.

په همدې وخت کښې د یوې ښځې پام شو چه په اوبو کښې د کوم شي دملا تیر او پلنه لکېړه د څپو دجګیدو او ټیټیدو سره ښو رې.


ښځې دهغو کودتني خواته ګوته ونیوله اود ساحل یوه چوپړ نه یې پوښتنه وکړه: «هغه څه شي دي؟»

هغه وویل: «کب دی شار کانوخوړلی دی.» چوپړغوښتل چه قصه ورته تیره کړي خو ښځه یې په ژبه نه پوهېده. مخ یې خپل میړه ته کړ و یې ویل: «زه نه پوهیدم چه شارك به داسې ښایسته او ګلالې لکېړه لري.»

ملګري یې وویل: «زه هم نه پو هېدم.».

زوړ سړی په خپلې کوډۍ کښې ویده و. لاهم پړمخې پر وت واوهلك یې خنګ ته ناستو او ده ته یې کتل. زاړه سړي دافریقې څمري په خوب کښې لیدل.

urdu-classics.blogspot.com



ارنسټ هیمنګ وې

## دایکو نګی لنډه پیژندنه

ارنسټ هیمنګ وې په ۱۸۶۸ کال کښې دامریکې دا **او**نای په ایالت کښې زیږیدلی دی.

دځوانۍ کلونه یې دپلار سره په ښکار، بوکسنګ اوفو ټبال تیر کړی دی. وروسته یې په ژورنالیزم اوروز نامه نګارۍ ګوتې پورې کړې.

هیمنګ وې همداسې چه دقلم خاوند اود عمل سړی هم و. په لومړۍ عمومي جګړې کښې یې دایټالیې په محاذ کښې خدمت کاوه ددویم عمومي جنګ ور انې وېجاړې ئې په خپلو سترګو لیدلې دی.

ده لومړی د ژورنالیزم سره مینه ارله خو وروسته یې د خیالي داستانو په لیکلو پیل وکړ.
دده لومړی ناول د «لمرهم راخیژي» په نامه په ۱۹۲۶ کال کښې خپور شو.
په دې لړ کښې یې دویم کتاب «د وسلې سره وداع» دی چه د جنګ تاثرات او تباهي
او هغه وېرژلي ورځې چه پخپله به ده تیرې شوې په کښې ښکاري.

دده اثر نه تر اوسه دوه واري فلمونه جوړ شویدي. په ۱۹٤۰ کال کښې یې بل مشهور
کتاب «نو بتونه د چاد پاره ږغیږي» چاپ شو، دده اخري شاهکار چه دده استادي یې
په ټولو ومنله همدغه وړوکی ناول دی چه لومړی ځل په ۱۹۵٤ کال کښې
چاپ شو.

هیمنګوې د ترسیم او په تیره د خبرو او دیالوګو په واسطه د ترسیم په چارو کښې
بې سارې دی. دده قهرمانان ټول ځمکني او واقعي دي او هیڅکله یې دی په خیالي
وزرونه سپروي.

هیمنګوې په ۱۹٦۱ کال کښې سبز کال د جولايي په دریمه نیټه د ۶۲ کلو په عمر د ټوپك
ډزیا کولو په وخت کښې سهواً ځان وویشت.



سعدالدين «شپون»

PROPERTY OF ACKU
32321

# THE OLD MAN AND THE SEA

by

ERNEST HEMINGWAY

TRANSLATED

by

SADUDDIN « SHPOON »

AURANG ZEB QASMI
DISTRICT MARDAN
TEHSIL KATLANG

دولتي مطبعه